بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** دولتي بودیجه

**څانګه:** بانکداری، محاسبه او تجارت اقتصاد

**مولف:** محمدشاه رویایی

**ژباړن:** نورالله حقمل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزاې د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- عبدالجمیل ممتاز
- محمد احسان احسان

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**ویب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**کډ ISBN:** ISBN 9789936300675



Ketabton.com



د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی　　دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی　　د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو　　د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي　　پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي　　هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي　　لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به　　لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر　　وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفی کیږي او نه هم منقطع کیږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسووليت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله
**فاروق وردګ**
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکي | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | د بودجې د علم اصطلاحات | ۱ |
| دویم | د بودجې اهمیت، ماهیت، تعریف او تاریخچه | ۹ |
| دریيم | د بودجې مراحل | ۱۷ |
| څلورم | د بودجې اصول | ۲۹ |
| پنځم | د بودجې حالات | ۳۷ |
| شپږم | په افغانستان کې د بودجې جوړښت | ۴۳ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۴۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدمه

معلومه ده چې په اوسنۍ نړۍ کې بودجه جوړونه، دمؤثرو توکو په توګه د دولت د ښه مدیریت په خاطر مهم رول لري.

د عقلی پرنسیپونو پر بنا له وړ زیرمو څخه په دولتي ځانګو کې په ښه او صحیح توګه کار اخیستنه، د کار موندنې لارې برابروي او د دغې زیرمې له زیات اصراف څخه مخنیوی کوي او همدارنګه ددغې ملی زیرمې د عادلانه او سم ویش لپاره ښه بستر جوړوي.

له همدې امله د دولتي بودجې مضمون چې د ارزښتناکو اقتصادي مسایلو په اړه د محصلینو ذهنونه روښانه کوي له څو کلونو څخه را پدې خوا د اداري او حسابداری په انستیتوت کې تدریسیږي. د یادونې وړ ده چې تراوسه تدریس معمولاً د نوټ ورکولو په توګه دي په داسې حال کې چې د محصلینو د پام وړ وخت په لیکلو تیریږي او کم وخت د پاتې شویو ویناوو او د درس د واضح کولو لپاره پاتې کیږي او دا یو داسې زیان او لوی عیب ګڼل کیږي چې باید مخه یې ونیول شي.

په یاده ځانګه کې همدغه ټکي ته په کتلو سره د بودجې په نوم کتاب د محصلینو د سویې او سطحې مطابق تالیف شویدی چې البته په عملي توګه لیکل شوي مطالب او معلومات پکې د بودجې جوړونې له پالیسۍ سره سم ځای پر ځای شوی دی، او د اداري او حسابدارۍ د انستیتوت پر محصلینو سربیره د علم او فرهنګ نور مینه وال په ځانګړي توګه د اقتصاد د علم په برخه کې ګټه اخیستلی شي.

دغه کتاب په شپږو څپرکو کې لیکل شویدی.

لومړی څپرکی د بودجې د علم مهم اصطلاحات تر مطالعې لاندې نیسي او زده کوونکي د راتلونکو مطالبو لپاره آماده کوي. د کتاب په دویم څپرکي کې د بودجې تعریف، اړتیا او تاریخچه تر مطالعې لاندې شوې چې یاد مطالب د نورو مطالبو په نسبت د محصلینو لپاره زیات اهمیت لري. د کتاب په دریم څپرکي کې د بودجې د مراحلو اړوند مطالب ځای پر ځای شوي دي چې له هغه سره آشنایی د بودجې جوړونې د پالیسي د پوهیدو لپاره ډیر ضروری بریښي.

څلورم څپرکی د بودجې اصول په بر کې نیسي چې د هغه مطالعه د زده کوونکو لپاره حتمي بریښي. همداشان د دغه کتاب پنځم څپرکی د بودجې حالتونو ته ځانګړی شوی دی او وروستی څپرکی یعنې د کتاب شپږم څپرکی په افغانستان کې د بودجې جوړښت ته ځانګړی شوی دی چې په هیواد کې د بودجې جوړونې د پالیسۍ اړوند مطالب او ورسره د ۱۳۸۵ کال وړاندې شوی راپور پکې ځای شوی دی. چې د هغه په لوستو سره به شاګردان وکولی شي په هیواد کې په ښه توګه د بودجې جوړونې له پالیسۍ سره آشنا شي.

په درناوی

مسلک پوه محمد شاه رویایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټولیزه موخه

د بودجې له مفهوم، اهمیت او د هیوادونو په ملي اقتصاد کې د هغې ونډه او دغه راز د بودجې جوړونې زده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د بودجې د علم اصطلاحات

ټولیزه موخه:
د بودجې د علم د مهمو او اساسي اصطلاحاتو پېژند ګلوي.

**د زده کړې موخه:** د دغه فصل په پای کې له محصلینو څخه ټمه کیږي چې:

- د بودجې د علم اساسي اصطلاحات و پېژني.
- هغه اصطلاحات چې په نورو علومو کې کارول کیږي، د بودجې د علم له پلوه تفکیک کړای شي.
- د بودجې د علم په ساحه کې د اصطلاحاتو معنا اومفهوم وپېژني.

**اساسي اصطلاحات :**

۱- **وظیفه (Function):** د یوه تشکیلاتي واحد یا جز د کار او مسؤلیت له هغه حجم څخه عبارت دی چې په قانوني ډول تثبیت او مشخص شوی وي.

۲- **فعالیت (Activity):** فعالیت د تشکیل په چوکاټ کې یوه فرد یا شخص ته د ور سپارل شوي کار او دندې تر سره کولو ته ویل کیږي.

۳- **د کار واحـد (Work unit):** له یـوه ثابت مقدار کار څخه عبارت دی چې د فعالیت د اجرا کولو یا د یوې متاع د تولید په موخه د مصرف شویو هڅو د اندازه کولو معیار ګڼل کیږي.

۴- **انســجام (coordination):** انســجام د یوې دورې د مختلفو اجزاوو یا ښکیلو عناصرو د دندو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یووالي او وحدت څخه عبارت دی چې په مناسـبه فضا کې د هدف د لاسـته راوړلو په موخه په کار اچول کیږي.

۵- **پروګرام (program):** پروګرام د یوه تشکیل د ټولو موخو او اهدافو له صورت څخه عبارت دی،

۶- **پـلان (planning):** پـلان د راتلونکي پروګرام د موخو له طرحي او تعریف او د یادو شـویو موخو د ترلاسه کولو په اړه د اړینو تدابیرو له نیولو څخه عبارت دی چې د طرحې په ترڅ کې یې له دقیقې شـننې، معینو ارقامو، اعدادو او شـاخصونو څخه په معین وخت او زمان کې استفاده کیږي.

۷- **کاري پروګـرام (work programming):** کاري پروګـرام له هغه مجوزه پلان څخه عبارت دی چې تعمیل یې د یوې نمایندګي او یاد هغې د کوم واحد له لوري د ور سـپارل شـویو د ندو او فعالیتونو د اجرا په موخه په نظر کې نیول شوی وی.

۸- **د پروګرام تدقیق او شننه (program review):** له هغه ترتیب څخه عبارت دی چې په اساس یې د نظارت مقام د ماتحت شعبو د پروګرام موثریت اندازه او تقدیر کولای شي او پدې توګه یې تطابق یا سمون د دولت له عمومي اهدافو سره پرتله کیږي.

۹- **اداره (Administration):** د مطلوبه موخو د لاسـته راوړلو په مقصد د څو شـعبو د طرحه شویو پروګرامونو له تطبیق، نظارت او انسجام څخه عبارت ده.

۱۰- **طرز العمل (procedures):** پروسـیجر له هغه روش څخه عبارت دی چې قانوني بنسټ او منشاء ولري او په اساس یې چارې تر سره کیږي.

۱۱- **پروژه (project):** پروژه په یوه پروګرام کې له ځانګړې او مشخصې موخې څخه عبارت ده.

۱۲- **مالي دوره (Financial period):** دا دوره له یوې معیني حسابې دورې څخه عبارت ده چې په پای کې یې دفتر یا حسابي معاملات تړل کیږی او مالي وضعیت تثبیت او تعینیږي.

۱۳- **بودجه (Budget):** بودجه په لغت کې هغې کڅوړې ته ویل کیږي چې عواید پکې راټولیږي او لګښـتونه ترې اخسـتل کیږي، خو په اصطلاح کې د دولت هغه قانوني سند یا لاسوند ته ویل کیږی چې د دولت ټول یو کلن عواید او مصارف پکې درج کیږي. په بل عبارت بودجه د دولت هغه قانوني سـند دی چې د یوه معین وخت (معمولاً یو کال ) لپاره پکې د دولت ټول عواید او مصارف درج شـوي وي او د ټولو اقتصادي، ټولینزو، دفاعي، کلتوري او سیاسي فعالیتونو انعکاس کونکي وي چې د قانون په اساس ترتیب او طی مراحل(پلې) کیږي.

۱۴- **بودجـوي کال (Budget year):** بودجـوي کال له هغه مالي کال څخه عبارت دی چې په اړه یې د مالي منابعو تخمینات وړاندې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵- **روان کال (Current year):** لــه هغه کال څخه عبارت دی چې بلافاصله له جاري کال څخه مقدم یا پخوانی وي.

۱۶- **تېــر کال (Previous year):** لــه هغه مالي کال څخه عبارت دی چې بلا فاصله له جاري کال څخه مخکې وي.

۱۷- **موجــوده فعالیــت (Current Level Activity):** له هغو مصارفــو څخه عبارت دي چې په بودجوي کال کې د فعالیتونو د اجرا لپاره لازم وي.

۱۸- **نــوی تکلیف (Betterment Program):** له هغه وجهې څخه عبارت ده چې د جاري کال د فعالیتونو د اصلاح په موخه تزئید یا تنقیص کیږي.

۱۹- **عادي مصارف (Operating Expenditure):** له هغو مصارفو څخه عبارت دی چې د دولت د عادي او ورځنیو فعالیتونو(له انکشافي فعالیتونو څخه پرته) لپاره په نظر کې نیول کیږي.

۲۰- **انکشافي مصارف (Development Expenditure):** له هغو مصارفو څخه عبارت دي چې د انکشافي پلانونو (له عادي مصارفو څخه پرته)لپاره په نظر کې نیول کیږي.

۲۱- **وجه (Fund):** له هغه حسابي واحد څخه عبارت دی چې له پیسو یا مالي منابعو څخه تشکیل شوی وي او د ځینو منظور شویو موخو لپاره ترې استفاده کیږي.

۲۲- **عــادي وجه (Operating Fund):** له هغه مــدرک څخه عبارت دی چې عادي بودجه ترې تمویلیږی.

۲۳- **عمومــي وجــه (General Fund):** له هغه مدرک څخه عبــارت دی چې د دولت د عمومي مصارفو (عادي او انکشافي) د تکافو په موخه ترې استفاده کیږي.

۲۴- **انکشافي وجه (Development Fund):** له هغه مدرک څخه عبارت دی چې انکشافي پروژې ترې تمویلیږي.

۲۵- **وړاندیز شوې بودجه (Proposal Adopted Budget):** د اساسي کال او حد اقل ددوو را روانــو کلونــو د مصارفو د اټکل له مخې د راتلونکي کال له مالي او عملیاتي پروګرامونو څخه عبارت ده، چې د تدقیق او تصویب لپاره کابینې او پارلمان یا ملي شورا ته وړاندې کیږي.

۲۶- **منظور شــوې بودجه (Approved Budget):** لــه هغو عملیاتي پروګرامونو څخه عبارت ده چې د باصلاحیته مقاماتو له لوري تصویب او منظوریږي، د ولســمشر له لوري توشیح کیږي او د مالي کال عادي لګښتونه او پراختیایي پروګرامونه تعینوي.

۲۷- **حالیــه بودجه (Present Budget):** له هغې بودجې څخه عبارت ده چې په حاضر حال کی د تطبیق وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۸- **عــادي بودجــه (Operating Budget):** له هغې بودجې څخه عبــارت ده چې د دولت د عادي مصارفو، پروګرامونه او د یومیه مصارفو منابع په غېږ کې نیسي.

۲۹- **انکشافي بودجه (Development Budget):** له هغې بودجې څخه عبارت ده چې د منظم پلان له مخې د پراختیایي او انکشافي مصارفو پروګرامونه او د هغو تمویل په غېږ کې نیسي.

۳۰- **د منظــورې اصل (تخصیص) (Allocation):** لــه هغې ټاکلې وجهې څخه عبارت ده چې د مصرف صلاحیت يې په بودجوي ســند کې منظور شــوی وي او یا د باصلاحیته مقاماتو له لوري یوه اداري واحد ته د ځانګړو اهدافو لپاره د یوه وخت په اوږدو کې ورکول کیږي.

۳۱- **تصفیه شوې ژمنې (Liquated Obligations):** له هغو تر سره شویو ژمنو څخه عبارت دي چې تر سره شوي یا فسخه شوي وي.

۳۲- **پــه بودجه کــې د حالیــه منظــوري مجموعــه (Total Amount Currently Approved Budget):** له هغه رقم څخه عبارت دی چې د کلنۍ منظوري له اصل څخه د پخوانیو یا د پام وړ تزییداتو یا تنقیصاتو په پایله کی تر لاسه کیږي

۳۳- **د تخصیصاتو حواله (Allotment):** له هغه صلاحیت څه عبارت دی چې د مالیې وزارت له لوري یوې نماینده ګي ته د کلني منظوري د اصل په مقابل کې مصارفو ته د صورت ورکولو په موخه په معین مقصد او مقدار ورکول کیږي.

۳۴- **دفرعي تخصیصاتو حواله (Sub Allotment):** له هغه صلاحیت څخه عبارت دی چې د یوې نماینده ګۍ د ماتحت واحد له لوري د معین مقصد په موخه د حکومت د وجهې د تعهد او صورت ورکولو په موخه ورکول کیږی.

۳۵- **حواله شــوي تخصیصات (Allotted Appropriation):** د تخصیصاتو له هغې برخې څخه عبارت ده چې صلاحیت او مصرف يې د مالیې وزارت له لوري یوې نمانده ګۍ او د هغې د لومړني واحد له لوري دوهم او دریېم واحد ته صادریدلای شي.

۳۶- **نا حواله شــوي تخصیصات (Un Allotted Appropriation):** د منظور شــوي اصل له پاتې مبلــغ څخــه عبارت دي چې د اړتیا په صورت کې د حوالــې لپاره مهیا او په نظر کې نیول کیږي.

۳۷- **تعهد شوي تخصیصات (Obligated Allotment):** د حواله شویو تخصیصاتو له هغې برخي څخه عبارت دي چې د مخکې منظور شــوې معاملې د مصارفو لپاره په نظر کې نیول کیږي او یوه لور ته اېښودل کیږي.

۳۸- **نا تعهد شــوي تخصیصات (Unobligated Allotment):** د تخصیصاتو له هغې برخې څخه عبارت دي چې نه تعهد شوي وي او نه مصرف شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۹- **انتقال (Transfer):** د حســاب له یوه لوري څخه د حســابي واحد له اخستلو او په بل لوري کې د هغه له درج کولو څخه عبارت دی.

۴۰- **د عوایدو تصنیف (Classification of Reccepts):** د ټولو عوایدو له رســمي تصنیف څخه عبــارت دی چــې د دولت عمومي خزانــې ته تحویل کیږي. دغه تصنیــف د عددي علاماتو (کوډونو) او تشریحي عناوینو په واسطه میسر شویدی. دغه سیستم د داخلي دولتي تصدیو د محاسبې لپاره نه استعمالیږي.

۴۱- **د مصارفــو تصنیــف (Classification of Expenditure):** د ټولو مصارفو له هغه رســمي تصنیــف څخــه عبارت دی چې د کلنۍ منظــوري په اصل باندي متکــي وي او د دولت له عمومــي خزانې څخه ورکول کیدی شي. دغه تصنیف د عددي علاماتو (کوډونو) او تشریحي عناوینو په واســطه میسر شویدی. دغه سیســتم د داخلي دولتي تصدیو د محاسبې لپاره نه استعمالیږي.

۴۲- **د بودجــې کلیــزه (Budget Calendar):** د بودجــوي مراحلو له رســمي مهال وېش څخه عبارت دی چې د مالیې وزارت او بودجې د ریاست د با صلاحیته سټو له لوري د بودجوي پروګرامونو، تخمیناتو، او بودجوي اسنادو او لایحې په اساس تعینیږي.

۴۳- **د بودجــې ریاســت (Budget Department):** د مالیې پــه وزارت کې د بودجې له مرکزي اداري څخه عبارت دی چې دطرحې، طی مراحل، منظوري، او داسې نورو په څیر د بودجې لــه ټولــو امورو څخه بر رسي کــوي او د دولتي دوایرو لپاره د عادي او انکشــافي بودجې د مصارفو او نظارت دنده په غاړه لري.

۴۴- **نمایندګی (Agency):** نمایندګی یا دویم بودجوي واحد د دولت د بودجې له هغه مستقل اداري واحد څخه عبارت دی چې د کوم اداري واحد جز نه وي او د دولت د تشــکیلاتو په جوړښت کې د بودجې لرونکی وي. لکه د ښوونې او روزنې وزارت، د مالیې وزارت، د ملي دفاع وزارت او داسې نور.

۴۵- **دوهــم واحــد (Secondary Unit):** د لومړنی واحد د یــوي نمانیدګي له اصلي اجزاوو څخه عبارت دی چې د یوې مشــخصې ســاحې لرونکی دی او په متسقیمه توګه لومړنی واحد یا نمایندګي ته مســؤل دی. د مثال په توګه د مالیې د وزارت اداري ریاســت، د معارف وزارت د ښوونکو د روزنې ریاست او داس نور.

۴۶- **دریيم واحد (Tertiary Unit):** د دوهم واحد له ماتحتو شعباتو او څانګو څخه عبارت دی چې په مســتقیمه توګه دوهم واحد ته مســؤل دی. د مثال په توګه د مالیې وزارت د اداري ریاســت د مامورینو مدیریت، د محاســبې مدیریت، د معارف وزارت د مسلکي او تخنیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کړو معينيت، د معارف وزارت د مســلکي او تخنيکي زده کړو د ادارې او حســابداري انستيټيوټ او داسي نور.

**۴۷- د نماینده ګي بودجوي دفتر(Agency Budget Office):** د نماينده ګي له يوې شــعبې څخه عبارت دی چې معمولاً د اداري رياست تر اثر لاندې وي او د نمايندګي د بودجې ترتيب او وړاندي کولو مسؤليت په غاړه لري.

**۴۸- د نماینده ګي د بودجې آمر (Agency Budget Officer):** د نمايندګي د بودجې د دفتر اداري آمر ته ويل کيږي .

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډيز:**

دا څپرکی د بودجې د علم له مهمو اصطلاحاتو څخه تشکيل شوی چې زده کړه يې د محصلينو لپــاره خــورا اړينــه او ضروري ګڼل کيږی، خو د فصل د مطالبو د خلاصې تــر عنوان لاندي د ټولو اصطلاحاتو له منځ څخه د مهمو هغو يادونه وشوه. خود لنډيز په توګه تر ټولو د مخه د بودجې د اصطلاح له تعريف او پيژندلو څخه پيل کوو:

په بودجه کی د يوې معينې دورې معمولاً ديو کال لپاره ټول دولتي عوايد او لګښتونه درج کيږي.

مالي دوره له هغې معينې حسابي دورې څخه عبارت ده چې په پای کې يې د حسابي معاملاتو دفتر تړل کيږي او مالي وضعيت تثبيت او تعينيږي.

بودجــوي کال له هغه مابعد مالي کال څخــه عبارت دی چې لپاره يې د وجهې د مالي منابعو تخمينات وړاندي کيږي.

جاري کال له هغه کال څخه عبارت دی چې په بلا فاصله توګه له بودجوي کال څخه مخکې وي.

تېر کال له هغه مالي کال څخه عبارت دی چې په بلا فاصله توګه له بودجوي کال څخه مخکې يا پخوانی وي.

د تخصيص د منظورې اصل له هغې ټاکلې وجهې څخه عبارت دی چې د مصرف صلاحيت يې د بودجې په ســند کې منظور شــوی وي او يا د باصلاحيته کسانو له لوري په يوه مالي دوره کې د ځانګړو موخو لپاره يوه اداري واحد ته ورکول کيږي.

وړانديز شوې بودجه د اساسي کال د مصارفو او حد اقل ددوو مابعدو کلونو د وړاند وينې له پلــوه د مالي او عمليــاتي پرواګرامونو له توحيد څخه عبارت ده چې د تدقيق، مطالعې او تصويب پــه موخه کابينې او د ملي شــورا مجلس ته وړانــدې کيږي، په داسي حال کې چې منظور شــوې بودجه له هغو عملياتي پروګرامونو څخه عبارت ده چې دبا باصلاحيته کســانو له لوري تصويب او

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظور شوې او د ولسمشر له لوري توشيح شوې وي، او د مالي کال عادي او پراختيايي پروګرامونه تعينوي.

پـدې ځای کـې د مصارفو له تصنيف څخه هـم يادونه کيږي چې د ټولو مصارفو له رسـمي تصنيف څخه عبارت دی چې د کلنۍ منظوري په اصل متکي او د دولت د عمومي خزانې له لوري ورکول کيږي، پداسي حال کې چې د عوايدو تصنيف د ټولو عوايدو له رسمي تصنيف څخه عبارت دی او د دولت خزانې ته تحويليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دلومړي څپرکی پوښتني:**

۱- پــلان یا (**Planning**) څــه مفهوم لري، توضیح یې کړئ او د انســجام یا (**Coordination**) د اصطلاح په اړه معلومات ورکړئ؟

۲- آیا د پروګرام (**Program**) او پروژې (**Project**) د اصطلاحاتو تر منځ کومه اړیکه شته او کنه، پدې برخه کې معلومات ورکړئ؟

۳- بودجــوي کا ل یــا (**Budget Year**) لــه روان کا ل (**Current Year**) او تېر کال (**Previous Year**)سره څه توپیر لري، معلومات ورکړئ ؟

۴- عادي لګښــتونه (**OperatinG Expenditure**) له انکشــافي لګښــتونو یا (**Development Expenditure**) سره څه توپیر لري، معلومات ورکړئ ؟

۵- عادي وجه (**Operating Fund**) له عمومي وجهې (**General Fund**) سره د تمویلي دندې د تر سره کولو له مخې څه توپیر لري، معلومات ورکړئ ؟

۶- منظور شوې بودجه (**Approved Budget**) له انکشافي بودجې سره څه توپیر لري، ویې لیکی ؟

۷- حواله شوي تخصیصات (**Allotted Appropriation**) او تعهد شوي تخصیصات (**Obligated Allotment**) په خپل منځ کې څه توپیر لري، واضیح یې کړئ ؟

۸- د مصارفو تصنیف (**Classification Of Expenditure**) په اړه خپل معلومات بیان کړئ ؟

۹- نمایندګۍ (**Agency**) او دوهم واحد (**Secondary**)تعریف کړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د بودجې اهمیت، ماهیت، تعریف او تاریخچه

**ټولیزه موخه:**
د بودجې د مفهوم بشپړ او مختلف تعریفونه او د هغې له تاریخچې سره جوخت د بودجې د نقش اهمیت.

**د زده کړې موخه:** د دې څپرکې په پای کې له محصلینو نه ټمه کیږي چې:

- د بودجې د علم منشاء، ماهیت او تعریف و پېژني.
- د خلکو د ژوند د ښه کولو لپاره د بودجې اړتیا و پېژني.
- په بشپړه توګه د بودجې له دندو سره پېژندګلوي پیدا کړي.
- د بودجې له پخوانیو مدارکو سره آشنایي پیدا کړي.
- د بودجې تهیه او تدوین و پېژني.

**بودجه څه شی ده؟**

پــه هغــو ټولو کتابونو کې چې د بودجې په اړه یې مطالب نشر کړي، په لومړي سر کې یې دا موضوع څېړل شــوې چې د بودجې لفظ د فرانســوي ژبې له بوژټ یا (**Bougette**) کلیمې څخه اخســتل شــوی چې د خرمني د کوچنۍ کڅوړې معنا ورکوي چې تدریجاً په ۱۸۱۴ ام کال کې په رسمي توګه د دولتي مصارفو او عوایدو لپاره د( باجت) په ډول استعمال شوه او له هغه وروسته د هېوادونو د مالي او اقتصادي ادبیاتو په توګه مروجه شــوه او نن ورځ د نړۍ په زیاتو هېوادونو کې د بودجې لفظ کارول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بودجې له تعریف سره په تړاو ویلای شــو چې په اړه یې زیات تعریفونه شــتون لري، آن د یوه مولف په نظر د بودجې په اړه د بودجې د کتابونو د لیکونکو په اندازه تعریفونه شتون لري، خو دلته یې په اړه د کلاســیکو علماوو له تعریف څخه پیل کوو.( بودجه له یو ډول ســند څخه عبارت ده چې د مملکت کلني عواید او مصارف پکې پیش بیني او منظور شــوي وي په پورتني تعریف کې دوه خاصیتونه مشاهده کولای شو چې په لاندي ډول دي:

۱- موعدي عمل

۲- مقدمات او د بودجې تخمیني والی(اټکل)

بودجــه لدې کبله موعدي عمل دی چې د یــوې معیني مالي مودې لپاره اعتبار لري. په زیاتره ممالکــو کې دغه موده یو کال ده چــې پیل او پای یې توپیر لري، له مقدماتي او د بودجې د اټکل له خاصیت څخه مقصد دا دی چې د راتلونکې وړاندوینه کوي.

د یوه بشپړ تعریف له مخي ( بودجه هغه پلان ته ویل کیږي چې لګښتونه پیشنهاد کوي او د اجرأتو په موخه د یوې معینې دورې ښــودنه کوي، او یا بودجه د عوایدو او مخارجو پیش بیني شوې لایحې ته ویل کیږي).

بودجــه هغــه لایحه ده چې د مقننه مجلس له لوري تصویب کیــږي او د عایداتو او مخارجو پیش بیني پکې درج شوې وي او له تصویب وروسته قانوني شکل غوره کوي. د بودجې د تشکیل لــه عواملــو څخه یو هم د عوایدو او مخارجو پیش بینــي کېدل دي، نو له همدې کبله د بودجې طرحه د حساب له صورت څخه جدا کیږي. ځکه د حساب صورت د هغو حسابونو له شرحې څخه عبارت دي چې پخوا تر سره شــوي وي او قاطعیت یې موندلی وي، پداسي حال کې چې د بودجې طرحه په راتلونکي کال کې د دولت د عوایدو او مخارجو له پیش بیني څخه عبارت ده. خو شونې ده چې دغه پیش بیني شوي عواید او مخارج کم ، یا زیات شي .

په پورتني تعریف کې یوې ټاکلې دورې ته اشاره شوې چې عموماً دیو کال یا یوه مالي کال سره بــرا بــره ده، خو د دغه مالي کال پیل او پای په مختلفو هېوادونو کې د ټولنیزي او اقلیمي اوضاع، عــرف ، عاداتــو او داسي نورو له مخې توپیر کوي. د مثال په توګه د مالي امورو او عامه مصارفو د قانون له مخي په افغانستان کې مالی کال د حمل یا وري د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه پیل او دحوت یا کب میاشتي په آخر کی پای ته رسیږي.

لکــه چــې یادونه وشــوه د نړۍ په زیاتــره هېوادونو کې بودجــه د یوه کال لپــاره ترتیب او تنظیمــږي. یــاده دې وي، هغه کســان چې د څو کلونو لپاره د بودجــې د ترتیب طرفداري کوي، استدلال وړاندي کوي چې د ملي شورا له لوري هر کال د بودجې د تصویب او منظوري پروسه د وخت ضایع کېدل دي، خو هغه کسان چې هر کال د بودجې د ترتیب پلوي کوي، دا دلیل وړاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــوي چــې بودجه له یو لړ اټکلونو څخه عبارت ده چې دا اټکلونه یــوازې د یوه کال لپاره کېدای شي. که چیرته شورا د څو کلونو لپاره بودجه تصویب کړي، ممکن د اوږدې راتلونکې او نامعینې مــودې پــه اړه دقیقه تخمیني وړاندوینه صورت و نــه مومي چې په پایله کې خپل صلاحیت او کنټرول له لاسه ورکوي .

په هر صورت لکه چې یادونه وشــوه په عمومي توګه بودجه په ټولو هیوادونو کی د ټولنیزې او اقلیمي اوضاع ، عرف، عاداتو او داسې نورو فکټورونو له مخې توپیر لري، همدا شان د بودجې د ختم دوره هم د یادو شویو فکټورونو تابع ګڼل کیږي.

په افغانستان کی د ۱۳۵۳ ل کال د بودجې د مقررې له مخې د بودجې بشپړ تعریف دا سې وړاندې کوي: ( بودجه د دولت له هغه قانوني ســند څخه عبارت ده چې ټول عواید او مصارف د یــوه معین وخت، معمولاً یوه کال لپاره پکې تعین شــوي وي او په اقتصادي، اجتماعي، دفاعي، کلتوري او سیاسي ساحو کې ټول انکشافي فعالیتونه انعکاس کوي).

لکه څنګه چې یادونه وشوه د بودجې په باره کې زیات تعریفونه شته چې د ورته تعریفونو ځیني بیلګې یې په لاندي ډول وړاندي کیږي:

۱- بودجــه په یــوه لنډه او معینه دوره کې د اقتصادي او اجتماعي موخو لپاره د دولت له مالي سیاست څخه عبارت ده.

۲- بودجــه پــه دولت بانــدي د مقننه قوې د نظارت یوه وســیله ده، چــې د هېواد په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې یا ګډون څرګندونه کوي.

۳- بودجه د هېواد په ملي اقتصاد کی د مدیریت وسیله ده.

۴- بودجه په یوه معینه راتلونکې دوره کې د پلان شویو مصارفو د تخمین او پیش بیني شــویو عواملو په مقابل کې د دغو مصارفو د مالي تکافو له منظمي طرحې څخه عبارت ده چې اصولاً د پرنسیپونو له نظره د تطبیق مکلفیت لري .

۵- بودجــه د وجوه له عمومــي منابعو څخه د صحیح او قانوني مــصرف کولو په اړه د خلکو د اطمینان وسیله ده.

لکه چې یادونه وشــوه د بودجې په اړه بېلابېل تعریفونه شــتون لري چې موږ یې دلته په څو هغو باندی بســنه کوو، خو مخکي لدې چې د بودجې په تاریخچه باندي بحث وکړو، د بودجې د اهمیت په اړه له څو مهمو ټکو څخه یادونه کوو:

**د بودجــې اهمیت:** لکه چــې پوهیږو د دولت لومړنۍ دندې د ملي دفــاع، امنیت او عدالت پــه ســاحه کې خلاصه کېدی شي، چې البته د ټولنې او دولت لپــاره د دغو دندو تر سره کیدل یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړ لګښــتونو ته اړتیا لري چې باید د ټولني د افرادو له لوري تعین شي، خو د ټولنو او جوامعو له پرمختګ سره په تدریجې توګه د دولت مکلفیتونه او د دندو سیســتم مهم او پیچلۍ شوی، څنګه چې نن ورځ دولتونه د اقتصاد رغوني، دکاری فرصتونو د ایجاد، د اقتصادي ثبات او تعادل د ایجاد او داسي نــورو په څیر یو لــړ مهمې دندې په غاړه لري او د ټولنیزي رفاه تامین او د خلکو اړتیاوو ته ځواب ویل د دولتونو له دندو څخه شــمیرل کیــږي، نو پدې توګه مقتدر دولتونه یا حکومتونه د څرګنــدو خدمتونــو د تر سره کولو په لټه کې دي تر څو د دولت په وړاندي د ملت قناعت تر لاسه شي.

خو دا ټکی هم د پاملرني وړ دی چې له دولت څخه د خلکو غوښــتنې او هیلې دومره پراخې او بــې شــمېره دي چې پوره کول یې د هر دولت له ځــواک او توان څخه وتلې خبره ده. څنګه چې دولتونه د خپلو دندو د تر سره کولو په برخه کې له یو لړ محدودیتونو او موانعو سره لاس او ګریوان دي، د هغوی د فعالیتونو مخه نیسی. په بل عبارت دولتونه د یو لړ معینو منابعو لرونکي دي چې دغو عایداتي منابعو ته په کتني سره خپلي دندې مخ په وړاندي وړي او په معینو ساحو کــې د مصارفو په محدودیت باندې مجبوریږي، د دولتونو د عایداتي منابعو محدویت د یوه مثال په واسطه داسي روښانه کوو:

څنګه چې پوهیږو د دولت له عایداتي منابعو څخه یوه مهمه او د پام وړ منبع له مالیې څخه عبارت ده چې معمولاً د دولت د مصارفو زیاته برخه تامینوي. خو څنګه چې مالیات، په ځانګړي توګــه د هغو د بیو بدلون د خلکو په انتخــاب او انګیزو باندي نیغ تاثیر غورځوي، چې کولای شي ســم لــوری ته ټولنه بوځي او یا د دې برعکس عمل وکــړي، نو څرګنده ده چې له خلکو څخه د مالیې اخستلو د غوره ټکي تشخیص او ترلاسه کېدل ضروري دي. پدې معناچې د لزوم له مخې د مالیې اخستلو په بدل کې د هیواد اتباعو ته تر هغې غوره مطلوبیت او همدا یا بدیل امکان میــسر شي. همدا شــان لکه چې پوهیــږو مالیات تل د ملي تولید یوه برخــه احتوا کوي چې ملي تولیــد پخپله یو محدود څیز دی، نوپدې اســاس د مالیې په نامــه د دولت د عاید دغه برخه هم محــدوده ده چې بایــد یوازي د لګېتوبونو لپاره چې د خلکو د رفاهیت لپاره تر ټولو زیات موثر دي ولګول شي.

همدغه لامل دی چې بودجې ته اړتیا لیدل کیږي، ځکه دولت محدودي مالي منابع لري او لدې سره سره لــه ملي اقتصاد څخه د در آمد د لاســته رواړلــو او را ټولولو په برخه کې دولت له جدې ننګونو او محدودیتونو سره مخ دی او د هغو د موخیز تنظیم، سېما او لګښت لپاره یو تدبیر ټاکلی او همدغه د بودجې جوړونې په معناده.

د بودجې دندې د حکومت د پلان شــویو تدابیــرو د موثر تطبیق او عمومي رفاه د تامین په

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخه د دولت د فعالیتونوله ترتیب او تنظیم څخه عبارت دي. بودجه د دولت د اساسي اقتصادي، کلتوري او ټولنیزو پروګرامونو د همغږي کولو په مورد کی ستر نقش لري او د دولتي موسساتو له لوري د مناسب تخصیص او د ټولنیزو منابعو د عادلانه توزیع د کنټرول او قضاوت وسیله ده او د مردم سالاري په نظام کې په دولت باندي د موثر نظارت کولو آله ګڼل کیږي.

همدا شان د محدودو منابعو د ذاتي او اساسي انتخابونو د خلال په برخه کې د خلکو د تفاهم د زیاتوالي لامل ګڼل کیږي چې د مالیاتو د اخستلو په ترڅ کی د خلکو له لوري دولت ته اجازه ورکول کیږي تر څو د ټولګټو، عمراني پروژو او ګډو موخو د تر لاسه کولو په برخه کی چې ددولت او خلکو د ارتباط وسیله ګڼل کیږي او پدې توګه د دولت دستګاه تنظیم کیږي، په مصرف ورسوي. پدې توګه د بودجې د مصرف په واسطه د دولت عمومي سیاست ګذاري څرګندیږي او د بودجې له تدوین او اجرا سره د دولت اقتدار په ډاګه کیږي.

د بودجې په ځای مصرفول خلکو ته ډاډ ورکوي چې له خلکو څخه تر لاسه شوي مالي منابع او وجوه په نهایت کی په واقعي توګه په مصرف رسېدلي او تر لاسه کېدل یې د توجیه وړ دي. د عوایدو سمه لاسته راوړنه او په شفافه توګه د هغو مصرف کول د خلکو په منځ کې د دولت د پرستیژ د زیاتوالي او اعتماد د تقویت لامل ګرزي.

**په نړۍ او افغانستان کې د بودجې تاریخچې ته لنډه کتنه:**

د بودجې په هکله د تاریخي شواهدو له مطالعې څخه دا حقیقت په ډاګه کیږي چې د بودجې د تنظیم او تهیې او دولت د واقعي درآمد په برخه کی لومړني اقدامات د دولتي ګرځندویانو له لوري تر سره شوي دي او د بودجې په هکله تر ټولو پخوانی مدرک د (**Doomsday Book**) په نامه هغه کتاب دی چې په منځنیو پیړیو کې د انګلستان د کرنیزو ځمکو د باج او خراج د وصول کولو په هکله د پاچا صلاحیتونه په ګوته کوي چې وروسته د آزادۍ د منشور په واسطه محدود شو او قانوني بڼه یې غوره کړه.

د یادونې وړ ده چې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۵ میلادي کال کې د انګلستان پارلمان د دولت د مالیاتو د تر لاسه کولو او عوارضو په پروسه باندي د نظارت کولو په فکر کې شو او په ۱۳۴۴ میلادي کال کې پارلمان د دولت په مخارجو باندي د نظارت کولو بحث مطرح کړ چې بلآخره په اتلسمه میلادي پیړۍکي تصویب او د انګلستان د دولت په بودجه باندي د پارلمان نظارت و منل شو.

له استقلال نه وروسته په امریکا او په ۱۷۸۹ میلادي کال کې په فرانسه او نورو هېوادونو کې په بودجه باندي د پارلمان نظارت کول تصویب شول او دغې عنعني رواجي او دودیزه بڼه خپله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ورځ بودجه د دې مستلزمه ده چې د یوه پارلماني نظام له لوري تصویب شي . همدا شان نن ورځ بودجه له ځانګړي نظم او مختلفو طبقه بندیو سره په یوه سیستم بدله شوېده چې د دغه سیستم څرنګوالی د هغې ټولنې د خصوصیاتو د پرمختګ او پراختیا په میزان او سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي اوضاع پورې اړه لري چې دوی پکې ژوند کوي.

زموږ په هیواد افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د (۱۷۴۷-۱۷۷۳) کلونو تر منځ د احمد شاه بابا په وخت کې یوه مالي اداره تاسیس شوېده چې د همایون اعلی په نامه بلل کېده او د اوسني وخت د مالیې د وزارت دندې یې په غاړه در لودې.

خو له دغه تاریخ څخه تر ۱۲۹۸ ام کال یعني د افغانستان د استقلال تر حصول د مخه، د دولت حسابونو د روزنامچې د دفتر په اساس صورت نیوه او د نن ورځې په څیر د بودجې بشپړ مفهوم شتون نه درلود او د دولت مصارف له پلان ګذاري یا پیش بیني څخه پرته اجرا کېدل.

د افغانستان په مالي نظام کې د بودجې سیستم، او د عوایدو او مصارفو پیش بیني په ۱۲۹۹ کال کې منځته راغلل. همدا شان په افغا نستان کې د دغه لومړني نظام د منځته راتلو سره هغه وشوه، تر څو د شاهي خزانې او د دولت د بودجې تر منځ تفکیک صورت ونیسي.

په ۱۳۱۵ کال کې د ژنیو مانچولي په نامه د یوه ایټالوي مشاور په مشوره د دولت د بودجې د حسابونو په طرز کې تغیر او تحولات را منځته شول. نوموړي د اقتصاد او مالیې د وزارتونو د مشاور په توګه دنده اجرا کوله.

د یادونې وړ ده چې نوموړي د مالیاتي دوایرو د تشکیلاتو د نوي طرز په نامه یو کتاب هم تالیف کړ او په مقدمه کې یې یادونه شوې چې دغه کتاب یوازې د افغانستان د دولت مامورینو او هغو اشخاصو ته ډالۍ کیږي چې د مملکت په اداراتو کې دندې تر سره کوي.

همدا شان د نوموړي کتاب په دوهم فصل کې له یوه نوي طرز سره د بودجې تعریف دا ډول شویدی: ( بودجه یو ډول سند دی چې د دولت کلني واردات او مصارف پکې پیش بیني او منظور شوي وي).

د دې کتاب په مقدمه کې د مولف له لوري یادونه کیږي( د دغه کتاب منضمه نمونه د هیڅ واحد هېواد د ورته نسخې کافي او تقلیدي نمونه نده، بلکې د نړۍ د متمدنو هېوادونو د فعلیه د فاترو نمونې او شکلونه د اسانتیا او ساده توب په موخه را اخستل شویدي او هغه مي د افغانستان لپاره ګټوري او مناسبې وګڼلې او پدې توګه مي پیشنهاد او وړاندي کړي.)

له دې نیتې څخه وروسته هڅه شوې تر څو په هېواد کی د بودجې عملي کېدل ترتیب شي او د ساده والي له کبله له دوو کلونو نه په لنډه موده کې په هېواد کې عمومیت ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یـادونې وړ ده چـې نومـوړی سیسـتم د ۱۳۲۸ او ۱۳۳۲ کلونو تر منځ د فرانسـوي کارپوه موسـوکلمان په واسـطه تر غور او څیړنې لاندې ونیول شـو او ځینې جزیې تعدیلات پکې ومنل شـول. په ۱۳۳۲ کال کې ترکي نیاز شـاهین د مضاعف سیستم واړندیز وکړ چې په بشپړه توګه و نه منل شـو او په ۱۳۳۸ کال کې د دولت بودجه په فعلي شـکل د (PIS) امریکایي موسسـې له لوري طرحه او تطبیق شوه.

**د دوهم څپرکي دمطالبو لنډیز**

د بودجې کلمه د فرانسـوي ژبې له (bougette) لغت څخه اخسـتل شوې چې د څرمنې د کوچنـۍ کڅوړې معنا لري او په رسـمي توګه په ۱۸۱۴ ام میـلادي کال کې د لومړي ځل لپاره د دولت د عوایدو او مصارفو لپاره وکارول شوه.

د کلاسـیکو علماوو د تعریف په اسـاس بودجه له یو ډول سند څخه عبارت دی چې د دولت کلني عواید او مصارف پکې پیش بیني او منظور شوي وي. د یوه بشپړ تعریف په توګه بودجه د عوایدو او مصارفو د پیش بیني لایحې ته ویل کیږي.

بودجې ته لدې کبله اړتیا لیدل کیږی چې دولتونه محدودې مالي منابع لري او د هغو د موخیز تنظیم، سپما او لګښت لپاره یوتدبیر ټاکي چې همدغه د بودجې جوړونې په معنا ده.

همدا شان د بودجې دنده د پلان شویو تدابیرو د اړوندو فعالیتونو د تنظیم او موثر تطبیق د چاري په دود د عمومي رفاه د تامین لپاره د دولت له اساسي هدف څخه عبارت دي. د بودجې په برخه کې تر ټولو پخوانی اثر د ډامسډی (Domesday book) په نامه کتاب دی چې په منځنیو پیړیـو کې د انګلسـتان له کرنیزو ځمکو څخه د باج او خـراج ټولولو په اړه د پاچا د صلاحیتونو ښوونکی دی.

د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۵ میلادي کال کې د انګلستان پارلمان د دولت د دریافت او عوارضو د نظارت په لټه کې شـو، په اتلسـمه میلادی پیړۍ کې دغه اصل تصویب او د انګلستان د دولت په بودجه باندي د پارلمان نظارت و منل شو.

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د احمد شاه بابا په وخت کې یوه مالي اداره تاسیس شوه. د افغانسـتان پـه مالي نظام کـې د عوایدو او مصارفو د پیش بیني یا د بودجې سیسـتم په ۱۲۱۹ هجري شمسي کال کې منځته راغی. په ۱۳۳۸ کال کې د دولت بودجه په فعلي شکل د (PIS) په نامه دیوې امریکایې موسسې له لوري طرحه او تطبیق شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دوهم څپرکي پوښتني:**

۱- د بودجې کلمه له کومې ژبې څخه اخستل شوې او څه معنا لري، معلومات ورکړئ؟
۲- د کلاسیکو له نظره بودجه تعریف کړئ؟
۳- په افغانســـتان کې د ۱۳۵۳ کال د بودجې مقرره د بوجې څه ډول تعریف وړاندي کوي، واضح یې کړئ؟
۴- په زیاتره هېوادونو کې بودجه د څو کلونو لپاره تصویب کیږي، معلومات ورکړئ؟
۵- بودجې ته اړتیا له کوم ځایه را ټولیږي، پدې برخه کې لنډ معلومات ورکړئ؟
۶- د بودجې دندې کومې دي، بیان یې کړئ؟
۷- په افغانستان کې مالي اداره په کوم کال تاسیس شوه، معلومات ورکړئ؟
۸- په اوسني شکل د دولت بودجه د چا له لوري طرحه او تطبیق شوه، معلومات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریيم څپرکی

## د بودجې مراحل

**ټولیزه موخه:**
پدې فصل کې په ترتیب سره د تصویب، اجرا او کنټرول، تقسیم او بر رسي په ځېر د بودجې مختلف مراحل مطالعه کیږي.

**دزده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې به محصلین وکړای شی چې:

- د بودجې ترتیب، د عوایدو او مصارفو تخمین وپېژني.
- د بودجې تصویب، د بودجې د تصویب په برخه کې اقناع یا قناعت کول او د صلاحیت مفهوم درک کړي.
- د بودجې د اجرا ځواک و لرلای شي.
- د بوجې د کنټرول ډولونه او د کنټرول مفهوم و پېژني.

**د بودجې مراحل:** د افغانســتان په څیر په پارلماني نظام لرونکو هېوادونو کې د بودجې مراحل په څلورو برخو وېشل شوي، چې په لاندي ډول ترې یادونه کیږي:

۱- د بودجې ترتیب
۲- د بودجې تصویب
۳- د بودجې اجرا
۴- د بودجې کنټرول

پورتني مراحل په زماني شــکل ترتیب شــوي، پدې معنا چې په لومړي سر کې د بودجې لایحه تهیه او تنظیم کیږی او د تصویب لپاره پارلمان ته وړاندي کیږی، له تصویب وروســته د پارلمان له لوري دولت ته ابلاغییږي او د دولت له لوري اجرا کیږي چې د اجرا په وخت کې د مالي قوانینو لــه مخي د اړوندو ارګانونو له لوري په مختلفو مراحلو کې کنټرول او بر رسي کییږي. د فصل پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کی د دغو مراحلو له مطالعې څخه پیل کوو:

**لومړۍ مرحله: د بودجې ترتیب**

پــه حقیقــت کی د بودجــې د ترتیب مرحله د بودجې د مراحلو تر ټولــو مهمه او زیاته فني مرحلــه ګڼل کیــږي. د بودجې په ترتیب او تنظیم کې دوه موضوعات خورا مهم ګڼل کیږي چې د بودجې د اساس او ستنو حیثیت لري او د عوایدو او مصارفو له تخمین څخه عبارت دي.

د ۱۳۸۴ کال د افغانستان د مالي امورو او عامه مصارفو د قانون د نهه ویشتمي مادې په اساس:

۱- د مالیــې وزارت د بودجــې د ترتیــب طــرز العمل او د کال بودجــوي صلاحیتونه هر کال د بودجې د سقف په پام کې نیولو سره ټولو دولتي اداراتو ته صادروي.

۲- دولتي ادارات مکلف دي چې د دې مادې د لومړۍ فقرې له مخې د اړتیا وړ بودجه په معین وخت کې ترتیب کړي او د تقاضا غوښتنپاڼه یې په رسمي توګه د مالیې وزارت ته تسلیم کړي.

د همدغه قانون د اوه ویشتمې مادې مطابق، حکومت باید د ملي اقتصاد د جوړښت او انکشافي طرحو له مخې د هر راتلونکي مالي کال لپاره تر لاســه کېدونکي عواید او عمومي مصارف تخمین کړي.

پدې مرحله کې د عوایدو او مصارفو تخمیني اټکل کول خورا اهمیت لري چې شرحه یې په لاندي ډول وړاندي کیږي.

**الف- د عوایدو وړاندوینه یا پیش بیني:**

دیادونې وړ ده چې دغه وړاندوینه ممکن د څو مهمو طریقو په واسطه تر سره شي چې په لاندي ډول وضاحت ورکول کیږي.

۱- **مســتقیمه طریقه:** دغه طریقه چې عواید پکې په مســتقیمه توګه پیش بیني کیږي، د عایداتو ټول ارقام مستقیماً مطالعه کیږي او د متخصیصینو د تجربې او مطالعې په اساس د هیواد اقتصادي اوضاع ته په کتنې سره وړاند وینه یا پیش بیني میزان کیږی.
دغه تګلاره عملاً له دوهمې نړیوالې جګړې نه وروســته په انګلســتان کې شــایع او پراخه شوه، د امریکا او فرانسې په څیر هیوادونو کې هم تر استفادې لاندي ونیول شوه. د یادونې وړ ده چې د وړاندوینې دغه تګلاره هغه وخت عملي کیدای شي چې د هیواد د اقتصادي وضعیت یا موقف په اړه کره اطلاعات تر لاســه شــوي وي، خو پرمخ تللو هیوادونو کې د ملي عاید، د وګړیو شمیرو او داسي نورو په څېر د مهمو اقتصادي کمیتونو په برخه کې د معلوماتو د نه شتون له کبله تر بحث لانــدي نشي نیول کیــدی. په هر صورت که د عوایدووړاند ویونکــي د د قیقو او کره معلوماتو او اطلاعاتو په اساس وړاندوینه ونکړي د بودجې په اجرا کې له خورا جدي ستونزو سره مخ کیدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ – د وروســتي ماقبل کال تګلاره:** پدې تګلاره کې چې تر ۱۸۳۳ کال پورې په فرانســه کې تر کار لاندې نیول کېدله، د تېر مالي کال له بودجې څخه ګټه اخستل کېده.

ځکه د روان مالي کال د بودجې اجرا تر اوسه پورې نده ختمه شوې، نو د درآمد براورد کول له هغې وروستۍ بودجې څخه چې اجرا یې ختمه شوې وي، قبول او منل کیږي. د مثال په توګه د ۱۳۸۰ کال د بودجــې د درآمــد د پیش بیني کولو لپاره د ۱۳۷۸ کال له تحقق موندونکو او قطعي درآمدونو څخه استفاده کیږي.

**۳- د وســطي زیاتــوالي طریقــه:** د دې طریقې مطابق په پنځو کلونو کــې د دولت د عاید له زیاتوالي څخه یو وســطي رقم تر لاســه کیږي. د دولت د عوایدو دغه وســطي زیاتوالی په براورد بانــدې اضافه کیږي او په واســطه یې د دولت مجموعي عواید پــه راتلونکي مالي کال کې تثبیت کیږي . دغه طریقه د (**Leon say**) په نامه د یوه عالم له لورې وړاندې شوه.

**۴- د تېر کال په اساس د پیش بینۍ تګلاره:** پدې تګلاره کې د تېر کال آمار او اطلاعات د درآمد د ډول په برخه کې د اســاس په توګه منل کیږی او د راتلونکي کال درآمد مشــخص کیږي. دغه روش د پیش بینۍ ډېره ســاده طریقه ده، چې هیڅ ډول محاسبې ته اړتیا نلري، یوازې د پخوانۍ دورې یعني دتېر کال د واقعي درامد سطحه د راتلونکي دورې د پیش بیني په عنوان په نظر کې نیول کیږي.

**۵- د پیش بیني قضاوتي تګلاره:** له دې تګلارې څخه هغه وخت استفاده کیږی چې د درآمد په هکله دقیق اطلاعات شــتون و نلري، چې البته د فني کارپوهانو او اړوند ســازمان د متخصصینو په ذهني نظریاتو باندې اتکاء لري.

د یادونــې وړ ده چــې له یادو شــویو طریقو څخه یــوه هم په یوازې او مســتقیمه توګه تر استفادې لاندې نه نیول کیږي، بلکې پکار ده چې د بودجې د تنظیم په وخت کې له ټولو مهمو طریقو څخه استفاده و شي.

**د مصارفو د وړاندوینې طرز:**

د مصارفو د پیش بیني(وړاندوینې) په اړه ویلای شــو چې په هکله یې کومه ځانګړې طریقه شتون نلري. که چېرته د بودجې ترتیب کوونکي په هروزارت کې د هغو تجاربو په اساس چې له تېرو کلونو څخه یې تر لاســه کړېدې، عادي او حقیقي مصارف په دقیقه توګه پیش بیني کړي، د هېــواد د ټولې بودجې پیش بیني تر حقیقت پورې نږدې کېدی شي، خو په عملي ډګر کې ممکن زیاتې ستونزې منځته راشي.

د مارمورینــو او مســتخدمینو د معاش په ډول ځیني نور مصــارف په قطعي توګه پیش بیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي، خو ځيني نور، لکه د قاچاقو د کشف مصارف او داسي نور قطعي بڼه نلري، بلکې تخميني بڼــه لري. لنډه دا چې د وزارتونو ټولې شــعبې د بودجوي کال لپــاره خپل مصارف ترتيبوي او د بودجې عمومي آمر د بودجې د مصارفو توحيد ترتيبوي او د مالبې وزارت ته يې استوي . د بودجې د تخمين په وخت کې د يوې ادارې رئيس ته پکار ده، تر څو لاندي عوامل په نظر کی ونيسي.

**لومړي :** پکار ده چې د تېرو کلونو مصارف په پام کې ونيسي او له هغوی څخه د لارښود په توګــه اســتفاده وکړي. دوهم بايد فکر وکړي چې آيا نومــوړې اداره د تېر کال په پرتله زيات کار په پام کی لري او کنه، پدې برسېره د اقتصادي اوضاع له مخې د مصارفو تغير هم بايد په پام کې ونيــول شي. د مثــال په توګه که بيکاري د اقتصادي تحول له کبله زياته شي، نو د حکومت امداديه مصــارف هم زياتيږی او اړوندې شــعبې يې په نظر کې نيــسي او يا که نوموړې اداره د زيات کار قصــد ولــري؛ اداره د مزد، اجورې، او معاش زيات مصارف پيش بيني کوي. د کار د زياتوالي دلايل هم ذکر کيږي، په پورتنيو عواملو بر سېره د ادارې رئيس د خپلې اړوندې ادارې د مصارفو د تعين په برخه کې بايد د حکومت ترلاســه کېدونکي عوايد هم په نظر کې ونيسي چې آيا دغه عوايد په راتلونکي کال کې زياتوالی مومي او که کميږي.

لکــه چې وليدل شــول، په عمومي توګه د مالي اړتياوو تثبيــت د ټيټو مقاماتو له لوري لوړو مقاماتو ته صورت مومي. په بله وينا د بودجې د ترتيب په صورت کې د وزارتي پرنيســپ مطابق چې په زياتو هېوادونو او افغانستان کې هم معمول دي، د وزارت يا موسساتو د اړتيا وړ مصارف د ښکته باصلاحيته مقاماتو له لوري ټاکل کيږي.

البته د مصارفو دغه تخمين يوازې د ادارې د آمر له لوري پوره کيږي او نوموړې فورمه له اسنادو سره يو ځای د مالبې وزارت ته استول کيږي. هغه اسناد چې په ورته مختصره او لنډه توګه د مالبې وزارت ته ورکول کيږي، له مطالبې وروســته مؤظفو اشــخاصو ته او د اړتيا په وخت کې د غور او تحقيق په موخه متخصصينو او اهل فن کسانو ته سپارل کيږي او د مالبې وزير هم د خپلو تخمين شويو عايداتو په اساس خپل نظر ورکوي.

په عمومي توګه د راتلونکو مصارفو په اړه د وزارت وړانديزونه معمولاً د پېيش بيني شويو عوايدو په پرتله زيات وي، د بودجوي توازن د برقرار ســاتلو په موخه د مالبې وزير د وزارت په وړانديزونو کې تنقيص واردوي. وارد شوی تنقيص پدې علت را منځته کيږي چې د سياسي شخړو او لانجــو لامــل نشي. دغه تنقيــص معمولاً د وزارت په ټوله بودجه کې د يوې واحدې ســلنې په توګــه وارديږي. کله چې د نومــوړي مقام له لوري بودجه تنظيم شي، د تاييد په موخه کابينې يا د وزيرانو د شورا مجلس ته راجع کيږی او د کابينې له تاييد وروسته د تصويب په موخه پارلمان ته وړاندي کيږي. يادونه کيږي چې د ســند له تســليمي سره د بودجې د جرياني مراحلو لومړنی پړاو پای ته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویمه مرحله:**

د بودجې تصویب یا منظوري:د افغانســتان داسلامي جمهوریت د اساسي قانونو د اته نوییمي مادې په اســاس، حکومت باید د مالي کال د څلورمي ربعې په دوران کې د راتلونکي مالي کال د بودجې سند باید د منظورۍ په موخه ملي شورا ته وړاندې کړي ، دا یو منل شوی اصل ګڼل شوی او معمولاً د نړۍ په ټولو هېوادونو کې رواج لري.

پارلمــان تــه د بودجې واړندي کول د ځانګړیو تشریفاتو په ترڅ کی تر سره کیږي. د بودجې د تنظیم مسؤل مقام (د مالیې وزیر ) شخصاً په ملي شورا کې حضور لري او د بودجې په اړه د روان بحث د حساسو ټکو په اړه تشریحات ورکوي.

دپارلمان مالي کمیسیون، د بودجې او اقتصاد د کمیسیون او ادراي کمیسیون په څیر د بېلابېلو کمیســیونونو لرونکــی وي. د یادونې وړ ده چې د بودجې مســوده د لومــړي ځل لپاره د مشرانو جرګــې د بودجې اومالیې کمیســیون تــه وړاندي کیږي او د مشرانو جرګــې له لوري له تصویب وروسته د ولسي جرګې د بودجې او مالي چارو کمیسیون ته راجع کیږي.

نوموړی کمیســیون د دغه ســند په اړخونو باندي غورکوي او د اړتیا په وخت کې د وزارتونو نماینده ګان راغواړي او اړوندو وزارتونو ته د پیشنهاد شوې بودجې په اړه ترې پوښتنې کوي چې له تحلیل او مطالعاتو وروسته خپل راپور د ولسي جرګې عمومي مجلس ته وړاندي کوي او عمومي مجلس هم د هغې په اړخونو باندي له غور کولو وروسته بودجه تصویب کوي.

د اوســني اســاسي قانون له مخې د بودجې د تصویب صلاحیت په مقننه قوې پوري تړاو لري. په هغو هیوادونو کې چې د اســتثنایې حوادثو له مخي یې په موقته توګه د مقننه قوې صلاحیت د اجرایه قوې رئیس ته لیږدول کیږي، اجرایه قوه د مقننه قوې په وکالت، بودجه تصویب کوي.

د دغــې مرحلــې د اهمیت په اړه ویل کیــږي، چې د بودجې تصویب شــوي ارقام یوازي د بودجــې د قانــون ګذاري پــه اړه د موافقو رایو مفهوم نه ورکوي، بلکــې د ولسي جرګې له لوري دولــت تــه د اعتــماد د رایې ورکولو معنا هم لــري، ځکه د بودجې ارقام د دولت د سیاســتونو، پروګرامونو او کړنلارو څرګندونکي دي.

**د بودجــې د تصویب څخه سرغړونه:** داسي پیښــې کمي تر ســترګو کیږي چــې پارلمان ته د پیشــنهاد شــوې بودجې تصویب صورت و نه نیســې ځکه د هېوادونو د تاریخ مطالعه په سمه توګه ددې موضوع څرګندونه کوي.

خــو کله چې وړاندیز شــوې بودجه تصویب نشي، دغه پېښــه د دولت لــه پروګرامونو سره د پارلمان مخالفت په ډاګه کوي او په هغه وخت کې د دولت سقوط او زوال حتمي بریښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بودجې موقت صلاحیت:** که چیرته حکومت دکوم دلیل له مخې د کال تر پایه ونکړای شي، د راتلونکــی کال بودجــه تنظیم کړي او یا پارلمان د بودجې د تصویــب او بررسي په کار کې ځنډ واچوي، په دواړو وختونو کې د دولت د تأدیو لپاره د جمهوري ریاســت له لوري د اعتبار موقته تقاضاکیږي.

د ۱۳۸۴ کال د افغانســتان د مالی چارو اود عامه مصارفو قانون د یو څلویښــتمې مادې په اساس د بودجې موقتي صلاحیت په لاندي ډول دی:

۱- کــه چیرتــه د یو لړ عواملو له کبله بودجه د مالي کال تر پیل پوري تصویب نشي، د نوې بودجې تر تصویب پوري د تېر کال بودجه په لاندې ډول تطبیق کیږي:
   a. د یوې میاشتي لپاره د بودجوي صلاحیت صدور
   b. د تېر مالي کال د بودجوې صلاحیت د $\frac{1}{12}$ برخې د صلاحیت صدور
۲- د دغــې مــادې د لومړۍ فقــرې مندرجه بودجوي صلاحیت د مــالي کال د بودجې تر تصویب پــوري د اعتبــار وړ دی، د دولتي بودجې تر تصویــب د مخه له موقتو بودجوي صلاحیتونو څخــه منځته راغلي مصارف لــه مندرجه مبالغو څخه د نوي مالي کال په بودجوي صلاحیتونو کې وضع کیږي.

**دریمه مرحله**

**د بودجــې اجــرا:** د بودجې د اجر ا او اهمیت پــه اړه ویل کیږي چې د بودجې له خورا مهمو مراحلو څخه شمېرل کیږي او د دولت او اجرایوي دستګاه د موفقیت او نه موفقیت په برخه کې اساسي نقش لري. همدا شان پدې مرحله کی د ورڼد وینې او براوردونو دقت او سموالي په ډاګه کیږی.

د بودجې د تطبیق او اجرا مرحله د بودجې د قانوني پروسي له بشــپړېدلو وروســته پیلیږی او د مالیــې د وزارت لــه لوري په معینو وختونو کــې د هر وزارت تخصیص حواله او ورکول کیږي. ځکه د مالي وضعې د ثبات او اســتحکام له مخې لازمه ده چې په معین وخت کې د مصارفو د تخصیصاتو تعین صورت ونیسي.

معمولاً د یوې مالي دورې په اوږدو کې یو لړ بې نظمي را منځته کېدای شي. د مثال په توګه، عمومــي مالیــات په معین تاریخ او معینه موقع تادیه نشي او یــا د ګمرکاتو محصول ګمرک ته د اموالو له واردیدلو سره ونه سپارل شي ، د صنعتي او تجارتي موسساتو عواید هم د پلور له مخې تحقق مومي. چې پدې توګه د مالیاتو تر لاســه کولو اود وجهې برابرولو پیش بیني شــوې پروسه ټکنــی کېــدی شي، چې پدې وخت کې د اړونــدو تعدیلاتو را منځته کول ضروری وي. د مثال په توګــه عوایــد د ورڼد وینې په پرتله کم شي او یا د هغــو مصارفو پایله چې را منځته کیږي تقلیل وکړي او یا یوه اداره اړتیا حس کړي چې د ورڼد وینې په خلاف په یوه مالي ربع کې زیات مصارف

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر سره کړي، همدا شان د مملکت په پروګرامونو کې تغيرات چې ممکن له یوې ادراې څخه بلې ادراې تــه د وجوه د انتقال یا لیږد لامــل وګرځي. د پورتنیو دلایلو له مخې پکار ده چې د بودجې عمومــي اداره د بودجــوي کال د هرې ربعې یا څلورمې په پیــل کې مقدماتي تخصيصات له لازمو تعديلاتو سره تجدید نظر کړي.

**د بودجې کنټرول:**

په پخوانۍ بریتانیا کې قانون ایښــوونکو د باورونو دمیزان په تصویب اکتفا کوله، خو دا پاچا ؤ چې کولای یې شــوای د لومړیتوبونو یا هغه څه په اســاس چې ده ته یې ارزښت درلود پرېکړه وکــړي. خــو ورو ، ورو د بودجې او مملکت مالي صلاحیت پارلمــاني مجلس ته وغزېد، پداسي ډول چې د مخارجو په اړه د پارلمان نظارت حتمي شو.

همــدا شــان د دغو اعتبارونو د مصرف څرنګوالی له یوې مــادې څخه بلې مادې ته او له یوه فصل څخه بل فصل ته مقید او په ځیني مواردو کې منع شــو، تر څو دولت ونکړای شي د خپلې خوښــې په اساس مصارف او لګښــتونه وکړي. نن ورځ د بودجې د اجرا نظارت د مقننه او اجرایه قوې له لوري تر سره کیږي.

د بودجې د مصرف او اجرا په اړه کولای شــو له درې ډوله کنټرول څخه یادونه وکړو چې له: اداري کنټــرول، پارلمــاني کنټرول او قضایی کنټرول څخه عبارت دي. چې مختصراً هر یو په لاندي ډول تشریح کیږي.

**۱- د بودجې اداري کنټرول:** د بودجې له تصویب نه وروسته، د بودجې له اجرا د مخه تر سره کیږي، تر څو له تصویب شویو اعتبارونو څخه د دولت مصارف تجاوز ونکړي. د مختلفو وزارتونو د کنټرول د چارو پرســونل او یا مســتقل دوایر دغه مسؤلیت په غاړه اخلي. معمولاً دغه چاره د اړونــد وزاوت دنده او مســؤلیت ندی، بلکــې د غه چاره د اړوندې قوې تــر نظر لاندي، د مالېې وزارت تر امر لاندي تر سره کیږي.

البته د دندو د ښــه انجام په موخه پکار ده چې د کنټرول د پروســې په ترڅ کې د اعدادو له تقلــب او غلطیو څخه مخنیوی وشي او د قانون دمقرراتو مطابق د حواله جاتو د اجرا کار تر سره شي او حواله شوي مبالغ له هغه مقدار سره انطباق ولري چې په بودجه کې تعین شوی وي.

**۲- د بودجې پارلماني کنټرول:** په ډیموکراټیکو حکومتونو کې د تصویب شوې بودجې دعوایدو او مصارفو کنټرول یو اساسي امر ګڼل کیږي. دغه کنټرول د بودجوي کال په پای کې تر سره کیږي او معمولاً په دوه ډوله صورت نیسي. لومړی دحکومت استیضاح چې د اجرایه قوې د انحراف علت موندنه کوي، چې د کنټرول د موثرې او دقیقې پروسې زمینه برابروي. نن ورځ په زیاتره هیوادونو کې دغه ډول کنټرول کوونکي کمیسیونونه فعالیت کوي او د بودجې د اجرا چاري بررسي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د بودجــې قضایــي کنټرول: دغه ډول کنټرول چې د پارلماني کنټــرول له ډول څخه دی، په زیاتره هیوادونو کې د محاســبې د دیوان له لوري تر سره کیږي. لکه مخکې چې یادونه وشــوه، د بودجې کنټرول خورا اهمیت لري او د هغې د موثریت د لوړوالي لامل ګرځي او ددې باعث ګرځي تر څو د بودجې مالي وســایل په لازم دقت سره د ټاکلو موخو د تمویل لپاره په کارواچول شــی او د سم کنټرول په واسطه اصراف او بې تفاوتي له منځه لاړه شی او د دولتي پروژو له ځنډېدلو څخه مخنیــوی وشي. پدې برخه کې د بودجې له مراحلو وروســته غوره بولو چې د بودجې د تنظیم په برخه کې د اجرایه قوې له صلاحیتونو څخه لاندې یا دونه وکړو.

د نړۍ په ټولو هیوادونو کې اجرائیه قوه د بودجې د پیشــنهاد مســؤلیت لري او د دې دندې صلاحیت په اجرائیه قوې او اداري دستګاه پوري منحصر دی. حتي په ځینو هیوادونو کې دغه اصل په اســاسي قانون کې هم درج شــوی دی او د هیواد مقننه قوه د بودجې د تصویب د صلاحیت مقام لري خو په هیڅ وجه د بودجې د پیشنهاد حق نلري.

د امریکا په متحدو ایالاتو کې د بودجې تنظیم، پیشنهاد او تصویب د ۱۹۲۱ کال د قانون تابع دی چې په صریحه توګه پکې ذکر شــوی چې د بودجې تنظیم او پیشــنهاد د ولس مشر له دندو څخه دی.

په انګلستان کی هم د هغه هیواد د پارلمان د چلند مطابق، د بودجې تهیه او تنظیم د دولت له دندو څخه ګڼل کیږي. په فرانسه کې دغه تفکیک له ۱۹۴۶ م کال نه وروسته په اساسي قانون کې ذکر شــوې دی. په اســاسي قانون برســېره په هغو قوانینو کی چې د هیوادونو د بودجې او تنظیم لپاره تصویب شوي دي، د دغه امر له ذکر څخه یادونه شوې چې د کال په معین تاریخ کې د بودجې تهیه او تنظیم د دولت ستره دنده ده.

په افغانستان کې د ۱۳۳۹ کال د عمومي محاسباتو د تصویب شوي قانون له مخي د بودجې په برخه کې د دولت دندې په ترتیب سره ذکر شوې دي.

**اوومه ماده:** هر وزیر مکلفیت لري چې هر کال د خپل وزارت د راتلونکي کال بودجه وړاندې کړي او د کال د لومړنیو دریو میاشتو په اوږدو کې یې د مالیې وزارت ته تسلیم کړي.

**اتمه ماده:** د مالیې وزیر باید دغه ټولې بودجې په یوه مرکز کې سره راټولې یا توحید کړي، د عایداتو بودجه هم ور سره ضمیمه کړي او د دولت ټوله بودجه تشکیل او تنظیم کړي.

**نهمه ماده:** دغه عمومي بودجه د کال د وروستۍ نیمايي په لومړیو کې د ملي شورای مجلس ته وړاندي شي، خو د ۱۳۶۲ کال د عمومي محاســباتو او بودجې په تصویب شــوي قانون کې د دولت له لوري د یادې شوې دندې تر سره کول. په لاندي ترتیب بیان شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دولسمه ماده:** د هر کال د لومړي نيمايې په لومړيو کې بايد د مالیې وزير د مملکت عايدات د راتلونکي کال لپاره پيش بيني کړي. دا ډول مخارج چې د دغو عوايدو د ترلاسه کولو لپاره پکار دي، په نظر کی نیول کیږی او دواړه د وزيرانو هيأت ته وړاندي کوي.

**ديارلسمه ماده:** د وزيرانو هيئت بايد پيش بيني شوي عايدات او د هغوی مخارج د حصول په اساس د هر وزارت د عايداتو په حدودو کې د مبالغو په بڼه ابلاغ کړي.

**څوارلسمه ماده:** هر وزير بايد د خپلو مصارفو بودجه د راتلونکي سند لپاره د هغو مبالغو په حدودو کې چې د ديارلسمې مادې مطابق د هغه وزارت لپاره تعين شوي وي، حاضر کړي تر څو د کال تر نهمې مياشتې پوري د مالیې وزارت ته وړاندي شي.

**پيځلسمه ماده:** د مالیې وزير بايد دغه ټوله بودجه په يوه صورت کې تنظيم کړي او د عوايدو بودجــه هــم ورسره ضميمه کړي او ټوله بودجــه تهيه کړي. د بودجې لايحه هر کال د لســمې مياشتې په لومړۍ نيټه د ملي شورا په مجلس کې پيش بيني کيدای شي.

څنګــه چې پورته د بودجې او عمومي محاســباتو د لومــړي قانون او دويم قانون له مخې د بودجــې تنظيم او اصول ذکر شــول، هغه ترټولو مهــم توپير ته چې په دې دواړو قوانينو کې تر ســترګو کيږي دا دی، چې د بودجې او عمومي محاســباتو په لومړي قانون کې دولت مکلف شوی دی چــې لومړی د خرڅ برنامه تعين کــړي او د مالیې وزير د دغو مخارجو د تامين لپاره د درآمد منابع مشخصې کړي، پداسې حال کې چې د بودجې په دوهم ټاکل شوي قانون کې لومړی د مالیې وزير د مملکت ټول عوايد پيش بيني کوي او په اړه يې د وزيرانو شــورا ته اطلاع ورکوي او دغه شــورا د هيواد د عوايدو مطابق، د وزارتونو او اړوندو ادارو د مصرف بودجه پيش بيني او تنظيم کوي.

د ۱۳۸۴ کال د مالي چارو او عامه مصارفو د نوي قانون د ۲۸ مادې مطابق:

۱- د ماليــې وزارت هــر کال د بودجې تقاضا او طرزالعمل او د مالي کال بودجوي صلاحيتونه دولتي اداراتو ته صادروي.

۲- دولتــی ادارات مکلف دي چې د دغې مادي د لومړۍ فقرې له مخې د اړتياوړ بودجه په معين وخت کې ترتيب او د غوښتنې وړانديز يې د مالیې وزارت ته تسليم کړي.

۳- د قضايي قوې بودجه د حکومت په مشوره د سترې محکمې له لوري ترتيب او د مالي کال د بودجې په توګه ملي شورا ته وړاندي کيږي.

۴- د مالیې وزارت د دولتي اداراتو په مشوره او تفاهم د مالي کال د بودجې تخميني صحت او د بودجوي قانون د صلاحيتونو لپاره اړونده غوښتنه د قانون له احکامو سره تاييدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- دولتي ادارات مکلف دي چې د بودجې د وړاندیز له ترتیب او تکمیل وروسته هغه د مالیې وزارت ته تسلیم کړي.

د یادونې وړ ده چې په راتلونکو مخونو کې په افغانستان کې د بودجې د ترتیب او منظورۍ په هکله مفصل بحث په نظر کې نیول شویدی، خو دلته په هیوادونو کې د بودجې د تنظیم او تهیې په برخه کی د اجرائیه قوي د نقش د څرګندولو په موخه د یادشوي قانون له ځینو مواردو څخه یادونه وشوه.

د دې فصل په پای کې باید په یاد ولرو چې د بودجې د تنظیم او پیشنهاد په برخه کې د مالیې د وزیر دندې او صلاحیتونه د نورو وزیرانو له دندو او صلاحیتونو سره توپیر لري. د بودجې د تنظیم په برخه کې د مالیې د وزیر دندې د مالیې وزارت د عایداتو د بودجې له ترتیب ، د مخارجو د بودجې له ترتیب، د هیواد د ټولې بودجې له ترتیب او پیشنهاد او د ملي شورا مجلس ته د هغې له سپارلو څخه عبارت دی.

پدې توګه لیدل کیږی چې د بودجې د ترتیب او تصویب په جریان کی د مالیې وزارت د ځانګړو مسؤلیتونو او اختیاراتو لرونکی دی، ټول مصارف چې ددولت او هر وزیر له لوري پیشنهاد کیږي، باید دمالیې د وزیر په موافقه او امضاء تر سره شي، البته دغه تګ لوری د نړۍ په زیاتره هیوادونو کې معمول دی او د یادونې وړ ټکی دا دی، کله چې وزارتونه د مالیې وزارت د لارښوونو او طرز لعمل مطابق د خپلې بودجې پیشنهاد د مالیې وزرات ته وړاندي کوي، له لازمې ارزونې وروسته د مالیې د وزارت په واسطه د بودجې استماعیه مجلس ته چې غړي یې د مالیې له وزیر، د اقتصاد له وزیر، د باندنیو چارو له وزیر او د امورو د ادارې د باصلاحیته استازی ( چې معمولاً د تشکیلاتو رئیس وي) څخه عبارت دي، وړاندي کیږي. په نوموړي مجلس کې د وزارتونو د باصلاحیته استازو په حضور کې چې له خپل دریځ او وړاندیز نه د دفاع کولو په موخه ناست وي،تحلیل او ارزیابې کیږي او وروسته د نورو قانوني پړاوونو د تر سره کولو لپاره صالحه مقاماتو ته چې یادونه یې مخکې شوېده، وړاندي کیږي.

### د درېیم څپرکي دمطالبو لنډیز

په هغو هېوادونو کې چې پارلماني نظام لري، د بودجې مراحل په څلورو پړاوونو کې تر سره کیږي چې د بودجې له ترتیب، تصویب، اجرا او کنټرول څخه عبارت دي.

د بودجې ترتیب تر نورو ټولو مراحلو مهمه، فنی او تخصصي مرحله ګڼل کیږي چې دوه موضوع ګاني پکې ځانګړی اهمیت لري، لومړی د عوایدو تخمین او دوهم د مصارفو تخمین، چې د عوایدو په تخمین کې هم له دوو طریقو څخه استفاده کولای شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقیمه طریقه، د وروستي ما قبل کال تګلاره، د وسطي زیاتوالي طریقه، د تېر کال په اساس د پیــش بینــي تګلاره او د قضاوتي پیش بیني تګلاره چې البته د بودجې د تنظیم په موقع کی باید له ټولو مهمو طریقو څخه کار واخســتل شي. د مصارفو د پیش بیني په اړه کومه ځانګړې طریقه شتون نلري.

لکــه څرنګه چې مطالعه شــوه د وزارتونو هره شــعبه د بودجوي کال لپــاره د خپلو مصارفو تخمیــن ترتیبــوي او د بودجې عمومي آمــر د مصرفي بودجې توحیدي راپور جــوړوي او د مالیې وزارت ته یې استوي چې د یادشوي مقام له لوري له تنظیم او وروسته د تایید په موخه د وزیرانو د شورا مجلس ته راجع کیږي چې له تایید نه وروسته د تصویب په موخه پارلمان ته استول کیږي.

د بودجــې د تصویب صلاحیت د ورځني قانون له مخي یوازي په مقننه قوې پوري اړه لري. د پیشــنهاد شــوې بودجې نه تصویب د دولت له پروګرامونو سره د پارلمان مخالفت په ډاګه کوي. کــه حکومــت د کوم دلیل له مخي ونکړای شي د کال تر پایــه د راتلونکي کال بودجه تنظیم کړي او یــا یې پارلمان د تصویب په چــارو کې ځنډ راولي، په دوا‌ړو وختونو کې د دولت د تأدیو لپاره د ولسمشرۍ له مقام څخه د موقت اعتبار غوښتنه کیږي.

د بودجې د اجرا د اهمیت په اړه ویلای شــو چې د دولت او اجرائیه دســتګاه د موفقیت او عــدم موفقیــت په برخه کې خورا اســاسي نقش لري. دغه مرحله د بودجې د قانوني پروســې له بشــپړولو وروســته پیلیږي او د مالیې وزارت له لوري د هر وزارت تخصیص په معینو وختونو کې حواله او ورکول کیږي.

نن ورځ د بودجې د نظارت چارې د اجرائیه قوې په وســیله تر سره کیږي، خو هغه څه چې د کنټــرول اړتیــا په ګوته کوي دا ده چې په بودجه کې د عوایــدو او مصارفو پیش بینــي مهمه او مسلمه ده چې دغه پیش بیني او عملیاتي پروګرامونه هغه مهال له ګواښ څخه ژغورل کیدای شي چــې کنټرول ترسره شي. پدې برخه کی کولای شــو له درې ډوله کنټــرول څخه یادونه وکړو لکه: اداري کنټرول، پارلماني کنټرول او قضایي کنټرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېيم څپرکي پوښتنې:**

۱- د بوجې د مراحلو شمېر څو دی، نومونه يې واخلئ؟
۲- د بودجې د ترتيب او تنظيم په برخه کې دوه مهم موضوعات کوم دي، نومونه يې واخلئ؟
۳- د عوايدو د پيش بيني د مهمو طريقو نومونه واخلئ؟
۴- د مستقيمي طريقې په هکله څه معلومات لرئ توضيح يې کړئ؟
۵- د وروستي ماقبل کال تکلارې په هکله ستاسو نظر  څه دی، بيان يې کړئ؟
۶- د وسطي زياتوالي طريقه څنګه طريقه ده ، پدې برخه کې معلومات ورکړئ؟
۷- د قضاوتي وړاندوينې تګلاره څه ډول طريقه ده، معلومات ورکړئ؟
۸- آيا د مصارفو د وړاند وينې په هکله کومه ځانګړې طريقه شته، معلومات ورکړئ؟
۹- د اوسني د تخمين په برخه کې يو رئيس بايد کوم ټکي په نظر کې ولري ؟
۱۰- د ورځني اساسي قانون له مخې د بودجې د تصويب صلاحيت کوم ارګان ته سپارل شوی دی، توضيح يې کړئ؟
۱۱- د بودجې امتناع څه مفهوم لري، توضيح يې کړئ؟
۱۲- د اداري کنټرول مفهوم توضيح کړئ؟
۱۳- د پارلماني کنټرول په هکله خپل معلومات وړاندي کړئ؟
۱۴- آيا د بودجې د تنظيم او پيشنهاد په برخه کې دمالېې  وزير دندې د نورو وزيرانو له دندوسرهتوپيرلري،که نه؟پدې اړه معلومات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بودجې اصول

**ټولیزه موخه:**

د بودجې د مهمو اصولو مطالعه او پیژندګلوي.

**دزده کړې موخې:** ددې څپرکی په پای کې له محصلینو نه ټمه کیږی چې وکړای شي:

۱- د بودجې د توازن اصول او د عوایدو او مخارجو تر منځ د موازنې مفهوم وپیژني.
۲- د بودجې د کاملیت او وحدت مفهوم زده کړي او د بودجې د وضاحت په هکله معلومات تر لاسه کړي.
۳- د بودجې د تخصیص او عدم تخصیص اصول و پیژني.
۴- د کلنۍ بودجې د اصل په هکله معلومات تر لاسه کړي.

## د بودجې اصول

لکـه څنګـه چـې څرګنده ده، هر علم او فـن د علمي فرضیو او اصولو پر بنسـټ ولاړ دی، بودجه جوړونه هم له دغه امر څخه ګوښـې نده او په یو لړ اساسـاتو چې د بودجې د اصولو په نامه یادیږي استواره ده.

د یادونې وړ ده چې په بېلابېلو علومو کې اصل د قاطعیت او ثبات لرونکی وي چې ضروري هغـه یـې نه بدلیدونکي دي. خو په بودجه کې اصل له قاعـدې څخه عبارت دی چې د ځانګړیو اهدافو د لاسـته راوړلو په موخه پکار ده، او زماني او مکاني شرایط یې باید په پام کې ونیول شي. د بودجـې د اصولـو رعایت د هغې د موثریت او ګټور تـوب د زیاتوالي لامل ګرځي او د دولت د مقاصدو د تر لاسه کولو په برخه کې د یوې موثري وسیلې حیثیت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بودجې اصول په لومړي سر کې د اقتصاد د کارپوهانو په اثارو کې تیت او خواره لیدل کېدل، آن تــر دې چــې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۵ میلادي کال کې د لیون ســې (**Leon say**) له لوري تدوین او وړاندې شول.

له هغه وروسته په هغوی باندې یو لړ نور اصول هم ور اضافه شول چې موږ یې پدې ځای کې له هغو برخو څخه یادونه کوو چې تاریخي قدامت یې پیژندل شــویدی، همدا شــان له هغو نویو اصولو څخه هم یادونه کیږی چې د یادو شــویو اصولو د نفي په توګه نه وو یاد شــوي، بلکې دهغوی د متممو اصولو په توګه ترې استفاده کېدله.

**د بودجې انتشار**

د بودجې انتشــار دامفهوم پیاده کوي چې بودجه دې له زحمت او مخارجو پرته په اســانه توګه د خلکو لاسته ورشي، تر څو په اسانۍ سره ملاحظه او څرګنده شي او هغه مبالغ چې د هغې په را ټولولو کې شریک دي، په څه ډول او د کومو شیانو لپاره په مصرف ورسیږي.

په ۱۷۸۱ میلادي کال کې د لومړي ځل لپاره په فرانسه کې یوې بودجې انتشار وموند او پدې توګه وغوښــتل شــول چې اعتماد او باور تر لاسه شي، تر څو وکړاي شي په مالیاتو برسېره د دولت د خزانې لپاره د کریډیټ او پیسو اخستل شوني شي او پدې توګه موازنه هم را منځته شي . د دې موخې لپاره په ۱۸۲۱ میلادي کال په سویس او په ۱۸۴۸ میلادي کال په اطریش کې د بودجې انتشــار منځته راغلی دی چې د بشپړ تیایي بهیر له طی کولو وروسته د پارلمان له لوري د بودجې انتشار حتمي بڼه غوره کړې ده.

**د بودجې بشپړتیا**

یو مالي کال د ټولو وړاندو شویو عوایدو او مخارجو لرونکی وي. کومه بودجه چې ټول عواید او مخارج پکې په مفصله توګه شــتون ونلري، نــشي کولای د خپلو اقتصادي او مالي پلانونو دندې په ســمه توګه تر سره کړي. د دې اصل په اســاس د بودجې د ترتیب په صورت کې له غیر خالص پرنســیپ څخه اســتفاده کیږي، او پدې توګه ټول مصارف او عواید په ناخالصه توګه په بودجه کې ښودل کیږي تر څو د دولت د فعالیتونو په هکله د معلوماتو یو ټولیز مفهوم وړاندې کړي.

له همدې کبله ادارات د خپلو تر لاســه شــویو عوایدو له جملې څخه د خپلو تر سره شــویو مصارفو د کسر حق نلري او نشي کولای چې د هغوی توپیر خزانې ته وسپاري، بلکې تر لاسه شوی درآمد خزانې ته تســلیم کوي او خپل مصارف د اړوند ســند له لاري پیشنهاد کوي او تر ځانګړیو مقرراتو لاندې یوازې په ځانګړیو موضوعاتو مرعې الاجرا کیږي.

پــه هر یوه صورت کې د مالیــې د وزیر موافقت اړین دی. د مالیې وزیر خپله موافقه د فوق العاده او غیر مترقبه اړتیا په صورت کې ورکولای شي. ټول مخارج باید په یوه ځای تخمین کړل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دقت وشي چې په راتلونکي مالي کال کې تأديه شي. ټول هغه عوايد چې تخمين يې په راتلونکي کال کې شويدي، مجبور دي چې د مخارجو د پرداخت لپاره په پام کې ونيول شي.

**د بودجې توازن (د عوايدو او مخارجو تر منځ موازنه):**

د بودجې د موازنې مهمه موخه دا ده چې هر کال د عوايدو او مخارجو تر منځ د شــونتيا تر بريده توازن برا بر وي. که د بودجې د تنظيم او تهيې په برخه کې کسر يا نيمګړتيا شتون ونلري ، يو غوره حالت ګڼل کيږي.که چيرته عوايد د مخارجو بسنه ونکړي نو تر ممکنه حده د نويو مالياتو د وضع کولو او يا د نويو عوايدو د سرچينو د اســتعمالولو او يا قروضو څخه اســتفاده کيږي. لنډه دا چې د بودجې د تنظيم په وخت کې له ډېر غور او فکر څخه کار اخستل کيږي.

غالباً په هغې بودجې کې چې د تهيې په وخت کې عوايد او مصارف يو تر بله تعادل نلري، ځينــي وخت جاري عوايد له جاري مصارفــو څخه زيات شي او ځيني وخت جاري عوايد له جاري مصارفــو څخه کم شي، نو ويل کيږی چې پدې صــورت کی بودجه توازن نلري او دولت د بودجې له کسر سره مخ دی. په ورته حالاتو کی دولت بايد د بودجې په لايحه کی د دغه کسر د تامين طرز تعين او پيشنهاد کړي، کنه نو بودجه خپل اصلي مفهوم له لاسه ورکوي.

همدا شان که بودجه زيات عوايد ولري چې دا پيښه ډېره کمه ليدل کيږي، پدې صورت کې هم دولت ته پکار ده چې د دغو اضافه شــويو عوايدو د اســتفادې پلان ترتيب او تعين کړي. د عوايــدو دغــه اضافه والی معمولاً د دولت له پورونــو څخه را منځته کيږي او که دولت مقروض يا پوروړی نه وي، حاصل شــوي عايدات زخيره کيــږي. ځيني وخت داسي هم کيږي چې د دولت لــه مقروضيت سره سره اضافي عايدات د مخصوصي زخيرې حســاب ته منظور او منتقل کيږي. د مثال په توګه په صنعتي هيوادونو کې ليدل کيږی چې اضافه عوايد د بحران په وړاندې د مبارزې او د اقتصادي انحطاط په وخت کې د بودجې د کسر د لېرې کولو لپاره ځانګړې شــوې زيرمې ته ليږدول کيږي.

د بشــپړتيا د اســاس له مخي بايد د مبلغونو اضافه ګی، د مالي کال له عادي بودجې څخه د غيــر عادې عوايدو پــه توګه د دويم مالي کال يا راتلونکې بودجې لپاره په پام کې ونيول شي. دغه اضافه والی بايد د پورونو د اړتيا د کموالي يا تقليل لپاره وکارول شي.

**د بودجــې وحــدت يا يووالی:** په بودجه کې ددې اصل موخــه دا ده چې په هيواد کې يوازي يــوه بودجه تهيه او اجرا شي، د بودجې تشــکيل په واحد صورت چــې په هغه کې د دولتي ادارو ټول عوايد او مخارج شتون ولري. د بودجې وحدت د دولت د اقتصادي ښيرازي لپاره اساسي شرط ګڼل کيږي.

د بودجــې د اتحــاد اســاس ورو ورو عملي بڼه غوره کړېده. په پخــوا وختونو کې تر ډېره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونــو اجــرا د مخصوصو خزانو له لوري تر سره کېده، دغې چارې دا ضرر درلود چې په یوه ځای کې د پیسو زیاتوالی او په بل ځای کې د پیسو کموالی را منځته کیده او هم یې د مالي اجراأتو د وضاحت او شفافیت پروسه له خنډ سره مخ کوله.

پــه عمومي توګه د اختتام او وضاحت له مخې دغه اســاس منځته راغلی دی چې ټول عواید او مخارج په تخمین کې سره متحد وي. دغه پرنســیب د بودجې د اتحاد په نامه یادیږي. بودجه باید یو ټرلی واحد تشکیل کړي، له همدې کبله له واحدې بودجې څخه د باندي د مستقلې فرعي بودجې اســاس ممنوع دی. د بودجې یووالی د مالي ادارو د یوالې لپاره اســاسي شرط ګنل کیږي چــې یوازي دغه حالت متحد مالي اساســات او مالي وضعه په څرګنده بڼه ښــودلی شي او د مرام مطابق مالي او اقتصادي اجرأات شــوني کوي. همدا شــان د بودجې د وحدت اصل، په بودجه کې د پیش بیني شــویو ارقامو په برخه کی د مقننه قوې د نظارت او کنټرول شرایط هم په ښــه توګه اماده کوي.

دیادونــې وړ ده چــې د بودجې د یووالي اصل، د بودجې د کلاســیکو اصولــو له ټولګې څخه اخســتل شــویدی او نن ورځ زیات شــمېر هیوادونه عادي بودجه او یوه فوق العاده بودجه تر تیبوي . د بودجې د وحدت په اصل کې د اســتثناء شــتون هم د پام وړ دی چې د غیر پیش بیني شویو علتونو د واقع کېدلو او یا د درآمد د عدم تحقق له کبله دولت په تصویب شوې بودجه کې د تغیراتو په را منځته کولو باندي منتج کیږي، پدې توګه دولت د بودجې د متمم تر نامه لاندي پارلمان ته یوه لایحه وړاندي کوي.

**د بودجې وضاحت:**

بودجه باید په واضیحه توګه وویشــل شي او په لنډه او مکمله توګه تشریح شي. بودجه د یوه مالي کال د اقتصادي جریان لپاره خپلې مالي دندې هغه مهال په ښــه توګه تر سره کولای شي چې عواید د هغوی د منځته راتللو له کبله او مخارج د هغوی د مرام او اســتعمال له مخې د شــونتیا تر بریده وویشــل شي. یوازي د بودجې په مجموعه کې د عوایدو او مخارجو ښــودل بسنه نکوي، ځکــه لــه ورته خلصو اعــدادو سره نه خو د بودجې تنظیم او ترتیب پــه ډاګه کیږي او نه هم په سمه توګه د هغوی اجرأ ترسره کېدلای شي. د بودجې واضیح او مشرح تنظیم د بودجې د کنټرول پروســه اسانه کوي، همدا شان منفرد اداري واحدونه د خپلو مکلفیتونو په لړ کې خپلې دندې په ښه توګه درک کولای شي او خپل مسؤلیتونه په لازم وخت کې تر سره کولای شي.

**د بودجــې دقیقوالی:** د دې اصل مطابق د دولت عوایــد او مصارف باید په هغه اندازه تعین شي چې په زیات احتمال سره د راتلونکې بودجې په دوره کې تحقق تر لاســه کړای شي. که چیرته د بودجې اعداد له پاملرنې او دقت سره تخمین شــوي نه وي، پدې وخت کی بودجه خپل اهمیت له لاســه ورکوي. د دولت د عوایدو او مصارفو دقیــق تخمین، د دولت د مالي طرزالعمل د زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

معقولیت د تضمین لامل ګرځي. د بودجې له تصویب نه وروسته د عوایدو یا مصارفو زیاتوالی یا کموالی، د ناوړه حالت اســتازیتوب کوي. نو ټینګار کیږي تر څو له نا مطلوبه او منفي تاثیراتو څخه چې د بودجې له کسر یا مازاد څخه منځته راځي، مخنیوی وشي.

**د بودجې تخصیص:** د دغه اصل له مخې پکار ده چې د بودجې په سند کې ټول مندرج ارقام، په هغه ډول ترتیب شي چې د بودجې په قانون کې تعین او د مقننه قوې له لوري تصویب شوي وي او د تر لاسه کیدلو او تادیه کولو اجازه یې تر لاسه کړې وي. پدې اساس د بودجې وسایل باید په یوه معین وخت کې د ځانګړیو اهدافو لپاره په کار واچول شي.

د تخصیــص اصل هیڅ ډول تغییــر، انعطاف او بدلون نه مني او دولت ته دنده ورکوي تر څو بودجه د هغو اهدافو لپاره مصرف کړي، د کومو لپاره چې تصویب شــوې وي. د تخصیص اصل هم د یو لړ استثناأتو لرونکی دی چې د انعطاف د اصل په نامه یادیږي.

د بودجې د انعطاف منلو د اصل له مخې، دولت د بودجې د اجرأ په برخه کې یو لړ اختیارات تر لاسه کوي، تر څو د تخصیصي اصل له دقیقې اجرأ څخه منځته راغلې احتمالي ستونزې حل شي.

**دتخصیص نشتوالی:** د دغه اصل له مخې، هغه ټول عواید چې له مختلفو مدارکو څخه لاسته راځي په نا توپیره توګه د ټولو مصارفو لپاره په کار وړل کیږي. عواید او مصارف په مجموعي توګه یو د بل په وړاندې قرار لري او په مجموعي توګه په موازنه کی راوړل کیږي، چې دغه اساس د غیر مشــخص پرنسپ په نامه یادیږي. د غیر مشخص پرنسیپ نه مراعات کېدل د بودجې د موازنې د له منځه تللو لامل ګرځي.

که له دغه اصل څخه استفاده ونه شي، د یوه معین هدف د مصارفو لپاره عواید کافي او حتی اضافــه کیدای شي. په بل عبــارت د دغه اصل مطابق ضرور نده چې هیڅ درآمد د کوم ځانګړي مصرف لپاره تخصیص شي او یا کوم مشــخص مصرف له کوم ځانګړي درآمد څخه تامین شي. دغه اصل د تخصیص د اصل عکس دی

**د بودجــې کلنی والی:** لکه مخکې چې یادونه وشــوه د نړۍ په ټولــو هیوادونو کې بودجه د یوه کال لپاره ترتیب او تنظیمیږي. له کلني دوران سره د بودجې اړیکه په یوه بودجوي کال کې د حساب د واضح کېدلو، د تحقق موندلو ده او د صرفه جویي د اساس لپاره حتمي ده.

ادارې د بودجې له تصویب شویو مخارجو څخه یوازې د مالي کال په اوږدو کې استفاده کولای شي، د بودجــې ټــول طرزالعملونه په یوه کال کې د هماغه کال لپــاره دي چې بودجه ورسره تړاو لــري. د دې تــګلارې ګټه پدې کــې ده، تر څو هر کال بودجه د پارلمان تر غور او دقیق ســنجش لاندې قرار ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلنی اســاس یوه اســاسي جنبه هم لــري. هغه بودجه چې د اجرائیه قــوې له لوري پلانیږي. ضروري ده چــې د پارلمــان له لوري تصویب شي. د بودجې کلنی اصل د مقننه قوي په واســطه د بودجــې د کنټــرول او بررسي زمینه هم برابروي، خو د بودجې کلنی اصل په لومړي سر کې په پخــواني وخــت پوري اړه لري. ځکه اکثراً د خلکو درآمد د کرنیزو محصولاتو او مالداري د تولیداتو لــه لاري تامیــن کېده چې یوه کلن ځنډ ته یې اړتیا درلوده او طبعاً د دولت مالیات هم د یوه کال په اوږدو کې وصول کیدی شواى.

د بودجې د نویو اصولو په برخه کې د بودجې د اجرایوي اصل، د بودجې د صلاحیت د اصل او د بودجې د طرز العمل د اصل نوموڼه اخســتلای شــو، چې د بودجې د اجرایوي پرنســیپ په اســاس د حکومت له پروګرامونو سره موازي جریان لري او کامل مســؤلیت یې هم د حکومت په غاړه وي.

د بودجــې د صلاحیت د اساســاتو مطابــق باید اجرائیه قوه د خپلو مســؤلیتونو په وړاندي د بودجې په مقابل کې له لازمه صلاحیتونو څخه چې قانوناً تعین شویدي، کار اخستلای شي، تر څو یې په مرســته مدیر وکړای شي په مناســبو مواقعو کې د بودجې په اړه تصامیم ونیسي . د بودجې د طرزالعمل مطابق له یوه لوري د مالي دوایرو تر منځ همکاري شــتون لرلاي شي او له بله لوري د اجرائیه او مقننه قواو تر منځ یو ډول معلوماتي سیستم را منځته کیدی شي، تر څو یې له لاري د بودجې د ارقامو او اعدادو د ځینو تعدیلاتو او تغیراتو په برخه کې لازم معلومات له قانع کوونکو دلایلو سره تر لاسه شي.

پــه پورتــه بحث کې د بودجې مهم اصول وړاندي شــول. د دې فصل پــه پای کې د څو کلنۍ بودجې په هکله لنډ معلومات وړاندي کوو.

**څو کلنه بودجه:** د دولت مالي اقتصاد په کلنۍ بودجه برسېره وخت په وخت د یوه مالي پلان لرونکــي هــم وي، چې په دغه پلان کې د یوه منځمهالــه، مثلاً درې کلن یا پنځه کلن معین وخت عواید او مخارج پیش بیني کیږي. افغانســتان ته د مرســتو د تمویل د نړیوالو معیارونو له جملې څخه په ځانګړي توګه د پیســو د نړیوال وجهې صندوق له معیارونو څخه یې همدغه دی چې بودجــه د څو کلونو لپاره پیش بیني کیږي، دغــه کاري ډول د هیواد د بودجې په ترتیب کې هم معمول دی.

دغه پلان په ۱۹۱۴ میلادي کال کې، له لومړي نړیوالې جګړې څخه وروســته او هم په ۱۹۳۹ میلادي کال کې د دوهم نړیوال جنګ له پلانونو وروسته په ځینو هېوادونو کې په کار واچول شو، چې د مثال په ډول کولای شو په فرانسه کې د کمزوری اقتصاد لرونکو سیمو لپاره د درې کلن پلان او یا په یوګوســلاویا کې د وســپنې د پټلیو د جوړولو او معادنو د استخراجولو لپاره د پنځه کلن

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلان او داسي نورو نومونه واخلو. د ســترو اقتصادي پلانونو د کارولو اساسي علت د نړیوالو جګړو د پایلو له امله د بې کارۍ بې ســاري زیاتوالی ګڼل کیږي چې کار پوهان یې د خپلو نظریاتو په اســاس د دولت په مداخله او د بیکاري د بحران د مخینوي په موخه د اوږد مهاله پلانونو طرحه کولو ته اړ ایستل. نن ورځ هم د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې د اقتصادي انکشاف په موخه ورته اقتصادي پلانونه طرحه او تطبیق کې.

**د څلورم څپرکي د مطالبو لنډیز**

لکــه چې مطالعه شــوه بودجه جوړونه په یو لــړ اصولو ولاړه ده، چې د بودجې د اصولو په نامــه یادیــږي. دبودجې د اصولو په لړ کــې یو هم د بودجې توازن دی . د بودجې د موازنې یوه مهمه موخه دا ده چې د شــونتیا تر بریده په بودجه کی د عوایدو او مخارجو موازنه مراعات شي ، خو د بودجې د انتشار اصل دا مفهوم لري چې بودجه په اسانه او بې زحمته توګه ملاحظه شي.

د بودجې بشــپړوالی د مالي کال ټول پیش بیني شــوي عواید او مخارج په ځان کې را نغاړي ، یوه فاقده یا نیمګړې بودجه نشي کولای خپلې دندي په مناســبه توګه تر سره کړي. د بودجې د وحــدت اصل موخه دا ده چــې بودجه یوازې په هېواد کې ترتیب او اجرا شي او د یادونې وړ ده چــې د بودجې د وحدت اصل د کلاســیکو اصولو له ډلې څخــه دی، چې نن ورځ زیاتره هیوادونه عادي او فوق العاده بودجه ترتیبوي. د بودجې د وضاحت په اړه ویلای شــو چې بودجه باید په ښکاره توګه وویشل شي او په مکمله او خلصه توګه تشریح شي.

د بودجــې د تخصیــصي اصل په هکله ویلای شــو ، د بودجې په ســند کې ټــول مندرج ارقام ضروري دي، البته په هغه ډول چې د بودجې په قانون کې تعین او تصویب شوي دي. د تخصیص اصل یو لړ اسثنا ګانې هم لري چې د انعطاف پذیري په نامه یادیږي.

د عدم تخصیص د اصل په هکله ویلای شــو چې هیڅ درآمد باید د کوم ځانګړي مصرف باید لپاره تعین نشي او هیڅ مصرف له کوم ځانګړي عاید څخه تامین نشي. د بودجې د کلني دور په باره کې ویل کیږي چې تر یوه کال پوري محدوده ده، خو د دولت مالي اقتصاد په کلنۍ بودجه بر ســېره ځیني وخت یو لړ مالي پلانونه هم طرحه کولای شي، چې په هغو کې عواید او مخارج د یوې منځ مهاله دورې لپاره پیش بیني کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځلورم څپرکي پوښتني:**

۱-د بودجې د مهمو اصلونو نومونه واخلی؟
۲- د بودجې د موازني مفهوم څه شی دی؟ تشريح يې کړئ؟
۳- د بودجې انتشار څه مفهوم لري تشريح يې کړئ؟
۴- د بودجې د وحدت اصل کومه معنا لري بيان يې کړئ؟
۵- د بودجې د وضاحت اصل په لنډه توگه بيان کړئ؟
۶- د بودجې د تخصيص اصل تشريح کړئ؟
۷- د بودجې د عدم تخصيص د اصل په هکله معلومات ورکړئ؟
۸- د بودجې د کلني اصل په باره کې لنډ معلومات ورکړئ؟
۹- د څو کلني بودجې د ترويج او اړتيا په هکله معلومات وليکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د بودجې حالات

**ټولیزه موخه:**
د بودجې د توازن، مازاد او کسر د حالاتو مطالعه او د هغې د کسر د تامین طریقه.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلین وکړای شي چې:

- له متوازنې بودجې، د بودجې له کسر او مازاد سره اشنا شي.
- د بودجې د کسر له ډولونو سره په تړاو معومات تر لاسه کړي.
- په ملي اقتصاد باندي د بودجې د مکرر کسر منفي اثرات درک کړای شي.
- د بود جوی کسر د تامین د منابعو په هکله معلومات تر لاسه کړي.

**د بودجې توازن:** لکه څنګه چې پوهیږئ، د دولت بودجه په ځانګړي ډول له دوو برخو څخه تشــکیل شــوېده. د بودجې د عوایدو برخه او د بودجې د مصارفو برخه هغه وخت متوازنه بلل کیږي چې عواید او مصارف سره مساوي شي. یعنې په بودجه کې کوم کسر شتون ونلري.

کله چې د مصارفو په پرتله، د عوایدو نسبت زیات وي، د بودجې د ما زاد په نامه او کله چې د عوایدو په پرتله د مصارفو نســبت لوړ وي، د بودجې د کسر په نامه یادیږي. د کلاســیک مکتب د طرفدارانــو پــه آند د بودجې مازاد یا کسر دواړه د بودجې جوړونې د اصل مغایر دي، چې باید د شــونتیا تر بریده یې مخنیوی وشي. خو په هر صورت نن ورځ هم د بودجې مداوم کسر د دفاع وړ ندی او په ملي اقتصاد باندي منفي اثرات لري او بلآخره دولت د زوال په لور بیولی شي. البته د بودجې د کسر تکرار او په ملي اقتصاد باندي د هغې نا خوښــه اثرات، د تېرو دوو لســیزو په اوږدو کې په خپل هیواد کې لیدلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بودجې مازاد**

لکه مخکي چې یادونه وشوه کله چې په یوه بودجوي دوره کې د مصارفو په پرتله د دولت د عوایــدو نســبت لوړ شي، د بودجې د مــازاد په نامه یادیږي او دا پــه دوو حالتونو کې صورت موندلی شي. لومړۍ دا چې موجوده عواید ثابت وســاتل شي او مصارف کموالی ومومي او بل دا چــې عوایــد پورته ولاړ شي او مصارف ثابت پاتي شي چې معمولاً لــه عملي نظره لومړنۍ طریقې ته رجحان ورکول کیږي. ځکه د مالیاتو لوړوالی له قانوني او تخنیکي ستونزو سره یو ځای وي.

په بودجه کې د مازاد د منځته راوړلو اســاسي موخه، په قصدي توګه د قیمتونو د لوړوالي یا صعــود د مخنیــوي په مقصد، د مصارفو د کموالي له درکه د اقتصــاد د تقاضا له محدودیت څخه عبارت دی. البته د شدید پولي تورم یا انفلاسیون په صورت کې د بودجې دا ډول مازاد موثر نقش لري. البته د بودجې د مازاد په هکله داسي نظر شته چې که دغه حالت دوام وکړي، پدې معنا ده چــې دولــت هر کال خپل ولس یولړ منابعو ته لــه لاس رسي څخه محروموي، پرته لدې چې پخپله له هغې څخه استفاده وکړي. په پایله کې دغه بودجه بیکارۍ ته لمن وهي. ځکه چې بلقوه توان په کار ندی اچول شوی.

**د بودجې کسر:** لکه چې ملاحظه شول تر عوایدو د دولت د مصارفو زیاتوالی د بودجې د کسر پــه نامه یادیږي. پدې حالت کې ویلای شــو چې دولــت د بودجې له کسر سره مخ دی. د دولت د بودجــې کسر ممکــن بېلابېل دلایل او لاملونه ولري،کله چې دولت خپل فعال اقتصادي نقش تر سره کړي او له رکود څخه خلاصون ومومي، د سرمایه ګذارۍ زیاتو مصارفو ته اړتیا لري. همدغه امر دی چې د بودجې له کسر سره مخ شي تر څو په اقتصاد کې تعادلي حالت رامنځته شي. ځیني وخت پرته لدې چې ورته اقتصادي نقش ولري، د بودجې له کسر سره مخ کیږي چې د بودجې دغه ډول کسر په اقتصاد کې د دولت د ضعیف نقش د لوبولو څرګندونه کوي. لکه چې اشــاره وشوه د بودجې کسر بیلابیل لاملونه لري چې مهم یې په لاندي ډول ذکر کیږي.

**۱- د اداري امــورو لــه کبله د بودجې رامنځته شــوی کسر:** دغه ډول کــسر د بودجې له غیر معقول کسر څخه شــمېرل کیږي چې د ســازماندهي، برنامه ریزي، مناســب نظارت، کنټرول او د اداري نه شتون له کبله منځته راځي.

د دغو شیانو نه شتون په دولتي دستګاه کې د کاري هماهنګۍ د له منځه تلو لامل ګرځي. د بودجې کسر مهم عوامل په لاندي ډول دي.

**a. د اداري جوړښت کمزوري:** د کمزوري اداري جوړښت له کبله د عوایدو په اخستلو کې ځنډ واقع کیږي، چې دغه ډول ستونزه په زیاتره هېوادونو کې لیدل کیږي، خو په مخ په وده هیوادونو کې دغه موضوع ډېره عمومیت لري. د بېلګې په توګه خلک د مالي مشــکلاتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اســاس د مالیې په ورکولو او داسي نورو کې همکاری نه کوي. چې د عوایدو د پام وړ برخه په معینه موقع د دولت لاسته نه رسیږي.

**b. د مالیاتــو د وصول کونکو ســازمانونو د کاري صلاحیت نشــتوالی:** پــه ورته حالت کې د مالیــات ورکونکــو په منځ کې په بېلابېلــو ډولونو سره د تقلب، له مالیاتو څخه د تیښــتې اورشــوت اخســتلو په څېر فســاد راټوکیږي او په پایله کې د دولت د مالیاتو په واقعي سهم کې کموالی را ځي. د غلط مالیاتي سیستم انتخاب یعني د مالیاتو هغه سیستم چې له حاکم اقتصادي او اجتماعي وضعیت سره مطابقت ونلري، همدا شان د بې کفایته اداري سازمان د شتون په صورت کې د بودجې یو کسر هغه وخت را منځته کیږي چې دولت دغه نقیصه له منځه یوسي او نوي کارکونکي استخدام کړي.

**۲- د اقتصــادي اوضــاع بدلون د بودجې د کسر د علت په توګــه:** د اقتصادي اوضاع د بدلون لــه کبله د دولــت د عوایدو او مصارفو تر منځ همغږي له منځه ځــي. کله چې اقتصادي شرایط د مصارفو د لوړولو ایجاب وکړي، په هماغه اندازه د عوایدو د لوړېدلو امکان هم شــونی دی. د اقتصــادې وضعیت د تنزیل په صورت کې دولت نشي کــولای د مخارجو په محدودیت لاس پوري کړي، بلکې په ځینو حالاتو کې د اشــتغال او اقتصادي رکود په وړاندې د مبارزې د سیاســت له مخــې دولــت مجبور دی، خپلو مخارجو ته زیاتوالی ورکړي چــې برعکس د بودجې د درامد اقلام کموالی مومي.

البته اقتصادي نوسانات(بد لونونه) چې د ملي تولیداتو د کموالي لامل ګرځي او په پایله کې د دولت عواید کمیږی، کولای شي لنډ مهاله ستونزې وزیږوي.

د مثــال په توګه وچکالي، ســیلابونه، زلزلــې او داسي نور غیر مترقبه حــوادث د نوې مالیې د بودجوي کسر په برخه کې هغه لاملونه ګڼل کیږي چې تر ډېره یې مخه نشي نیول کیدی.

ځکه دولت نشي کولای چې د عمومي درآمد د کموالي په تناسب د بودجې مصارف کم کړي. ځکه د لا بدې اقتصادې وضعې لامل ګرځیدی شي او که د ســالم پولي سیاســت په واســطه کنټرول نشي په راتلونکو کلونو کې به د مصارفو زیات کموالی لیدل کیږي.

**۳- له اقتصادي جوړښت سره تړلی د بودجې کسر:** د بودجې دا ډول کسر د دولت د عوایدو او مصارفو تر منځ د هماهنګي د نشتوالي له کبله په اوږده مهال کې رامنځته کیږي او په همدې ډول اوږد مهالــه ماهیت لرلای شي، پداسي حال کې چې د بودجې هغه کسرونه چې تر اوســه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه شــوېده زیاترو یې لنډ مهاله هویت درلــود او د رامنځته کیدلو عواملو یې هم موقتي بڼه درلــوده. د بودجــې دغه ډول کسر چې تر ډېره ځایه پر مختللو هېوادونو کې لیدل کیږي او پدې هېوادونو کې د اوږد مهاله اقتصادي او ټولنیزي زیربنایې د تقویت په موخه له توسعوي اقتصادې سیاست څخه په پیروي د عمراني مخارجو د زیاتوالي په پایله کې منځته راځي چې په نتیجه کې یې هیــواد د اقتصادي پراختیا له ابتدایي مراحلو څخه لوړو مراحلو ته درومي. زیات خلک پدې نظر دي چــې د بودجــې دغه ډول کسر د بودجې د کسر تر ټولو معقول ډول ګڼل کیږي. حتی ځیني د نظر څښتنان دا نه مني چې د بودجې کسر له عمراني پانګي اچونې څخه را منځته کیږي، ځکه دوی د عمراني سرمایه ګذاري مخارج تولیدي مصرف ګڼي، چې په اوږده مهال کې د ناخالص ملي تولید په زیاتوالي منتج کیدلای شي.

د عمــراني مصارفو د تامین لپــاره د دولت د عوایدونه پوره کېدل تر ډېره ځایه د ټولنې د مالي ځــواک د ضعف لــه کبله وي. په داسي ډول چې د ټولني د مالي ځواک ضعف په دغو مواردو کې د عمراني بودجې کسر را منځته کوي.

**د بودجې د کسر د تامین منابع:**

دولت کولای شي د مرکزي بانک له لوري د پولي سیاســت په واسطه د دولتی قرضې د اسنادو نشر، له هیوادونو او خپل مرکزي بانک نه د قرض اخســتلو او داسي نورو له لارې د بودجې کسر تامین کړي.

په پرمختللیو هیوادونو کې د قرضې د اســنادو د انتشــار طریقه خورا مهم نقش لري. د دغه ډول اوراقــو نــشر د خلکو د کوچنیو پس اندازونو په راټولولو او د دولت په واســطه د هغوی د مــالي سرمایه ګذاري تجهیز له دوی سره مرســته کوي، تر څو لــدې لاري له عمراني پروګرامونو سره مرسته وکړي.

په پرمختللو هیوادونو کې د قرضې د دولتي اسنادو د ګټور توب په هکله د لږ پوهاوي له کبله لږ امکانات موجود دي او د قرضې دغه ډول اسناد په کمه اندازه د خلکو له لوري اخستل کیږي.

همدا شان د فوق العاده برخه پلوري. تر څو د بودجې کسر ور باندي تمویل کړي. د قرضې د دولتی اســنادو له لاري د بودجې کسر د تمویل په صورت کې ممکن د تورم یا انفلاسیون تاثیرات څرګنــد نشي، ځکه یوازي له خصوصي برخې څخه د اخســتلو قدرت دولت ته لیږدول کیږي او په اقتصاد کې د پیسو د زیاتوالي لامل نه ګرځي.

په پرمختللو هیوادونو کې چې د ســاختماني او زیربنایي پروژو لګښــت یې خورا زیات دی او مالي منابع یې له داخلي منابعو څه نه تر لاســه کیږي، د بهرنیو قرضونو تر لاســه کول یې د تمویل غوره منابع ګڼل کیږي، نو پدې اساس د هیوادونو د بودجې کسر د ورته قرضو له لاري تمویلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قانــوني چوکاټ په داخل کې له مرکزي بانک څخه د دولت قرضه او د امکاناتو د نه شــتون په صورت کې د مرکزي بانک له لوري د نويو پيســو انتشــار د بودجې د کسر د تامين يوه وسيله ګڼل کيږي چې د نويو پيسو نشر، د قيمتونو لوړوالی او انفلاسيوني تاثيرات له ځان سره لري.

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډيز**

څنګه چې يادونه وشوه د دولت بودجه په ځانګړي ډول له دوو برخو څخه تشکيل شوېده ، د عوايــدو برخه او د مصارفو برخه. يوه بودجه هغه مهال متوازنه ګڼل کيږی چې عوايد او مصارف سره مساوي وي. کله چې د دولت عوايد د مصارفو په پرتله زيات شي ، دا حالت د بودجې د مازاد په نامه يادېږي. همدا شان که چيرته د دولت مصارف د عوايدو په پرتله زيات شي، نو دا حالت د بودجې د کسر په نامه يادېږي.

د دولــت د بودجــې کسر بيلابيل دلايــل. د نامعقولو اداري چارو له کبلــه د بودجې کسر تر ټولو بد کسر ګڼل کيږی چې د برنامه ريزي، ســازماندهی، نظارت او دکنټرول د نه شتون له کبله منځته راځي.

لــه اقتصادي جوړښــت سره په تړاو د بودجې کسر د دولت د عوايــدو او مصارفو تر منځ د هماهنګي د نه تعقيب پايله ګڼل کيږی چې په اوږده مهال کې څرګنديږي او پدې توګه اوږدمهاله ماهيت لري.

زيــات خلــک پدې آند دي چې د بودجې د کسر دغــه ډول د بودجې د کسر تر ټولو غوره او مهــم کــسر ګڼل کيږي. دولت کــولای شي د مرکزي بانک له لوري د قرضې د اســنادو نشر او له نورو هېوادونو څخه د قرض اخستلو په واسطه د پولي سياست له لاري د بودجې کسرتامين کړي

په پرمختلليو هيوادونو کې د قرضې د اسنادو د نشر له لاري د بودجې د کسر تکافو خورا مهم نقش لري. همدا شان د فوق العاده مالي اړتيا په حالت کې دولت کولای شي د خپلې شتمنۍ يوه برخه وپلوري تر څو د بودجې کسر ورباندي تامين کړي.

پــه پرمختلليو هيوادونو کــې د بودجې کسر د تامين لپاره د بهرنيو قرضونو اخســتل تر ټولو غوره منابع ګڼل کيږي.

د قانــون پــه چوکاټ کې له مرکــزي بانک څخه د دولت قرضه او په نا مســاعدو شرايطو کې د نويو پيســو انتشــارهم د بودجې دکسر د تامين يوه وســيله ګڼل کيږي چې البته د پيسو نشر د قيمتونو لوړوالي او انفلاسيوني تاثيرات له ځان سره لرلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکي پوښتني:**

۱- بودجه څه وخت متوازنه بلل کیږي، پدې اړه معلومات ورکړئ؟
۲- د بودجې د مازاد مفهوم توضیح کړئ؟
۳- د بودجې دوامدار مازاد حالت څه معنا لرلای شي پدې اړه معلومات ورکړئ؟
۴- د بودجې کسر تعریف کړئ؟
۵- د اداري امورو له کبله منځته راغلی د بودجې د کسر په هکله معلومات ورکړئ؟
۶- د بودجې د کسر د علت په توګه د اقتصادي اوضاع د بدلون په هکله معلومات ورکړئ؟
۷- د اقتصادي جوړښت له کبله د بودجې د کسر په هکله معلومات ورکړئ؟
۸- د بودجې کوم ډول کسر غوره او معقول کسر ګڼل کیږي، نوم یې واخلئ؟
۹- دولت له کومو لارو کولای شي د بودجې کسر تامین کړي، نومونه یې واخلئ؟
۱۰- په پرمختللیو هیوادونو کې د بودجې کسر د تامین غوره منابع کومې دي، پدې اړه معلومات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې د بودجې جوړښت

**ټولیزه موخه:**
په هیواد کي د بودجې جوړولو له تګلارې سره آشنايي او د هغې د تصویب په برخه کی د بېلابېلو ارګانونو رول.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین وکړای شي چې:

- په هیواد کې د بودجې له مراحلو سره پیژندګلوي پیدا کړي.
- په هیواد کی د بودجې جوړولو د تګلارې په هکله معلومات تر لاسه کړي.
- د دولت د بودجوي اداراتو د نظم په هکله معلومات تر لاسه کړي.
- د بودجې د تدوین او بر رسي کمیټې د کار په اړه معلومات تر لاسه کړي.

**په افغانستان کې بودجه**

په افغانستان کې هم د نورو هیوادونو په څیر د بودجې څلور مراحل شتون لري چې مخکې یې یادونه شوېده، یعني د بودجې ترتیب، تصویب، اجرا او کنټرول.

د دولت بودجه د بودجوي کلیزي مطابق د بودجوي واحدونو له لوري د معینو مصرفي او تشکیلاتي نورمونو مطابق د وړاندي شویو ارقامو او اعدادو د تحلیل او شننې په اساس د بودجوي واحدونو له لوري ترتیبیږي، او د غور او بررسي لپاره د مالیې وزارت د بودجې ریاست ته استول کیږي.

د بودجې ترتیب په وزارتونو کې د ټیټو مقاماتو له لوري د لوړو مقاماتو په لور صورت نیسي. د مالیې وزارت د وزارتونو او موسساتو بودجه تعدیل او اصلاح کوي او له هغه وروسته د دولت بودجه داسي توحید او اصلاح کوي چې د بودجې اصل توازن په نظر کی نیول شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اداراتو بودجوي نظم:

لکه چې پوهیږئ پدې وروستیو کلونو کې د دولتي اداراتو بودجوي نظم په بشپړه توګه له منځه تللی او د مرکزیت ماهیت یې له لا سه ورکړی ؤ. د مسؤلینو په وینا د ۱۳۸۱ اکال په پیل کې د ورته بهیر د نوي ایجاد هڅې پیل شوې.

فعلاً د افغانستان بیارغونه د نړیوالې ټولنې په همکاریو باندې متکي ده او د عادي بودجې لویه برخه له داخلي عوایدو څخه تمویل کیږي. د مسؤلینو له قوله د ۱۳۸۱ کال له پیل نه مخکې، د بودجې عمومي ریاست د بودجې د تنظیم لپاره کوم عصري سیستم نه درلود او یوازنۍ وسیله چې په واک کې یې درلوده د حساب له ماشین څخه عبارت وه.

د بودجې د مصارفو زیاته برخه یوازې له عاجلو بشري مرستو څخه تشکیلېده. پلان شوې او منظمې هماهنګۍ شتون نه درلود او د پیسو ورکولو په مورد کې دقیق ارقام هم څرګند او واضح نه وو. د وخت په تېرېدو سره د مالي امورو د نظم لپاره ځانګړي پروګرامونه ایجاد شول چې پدې لړ کې د پالیسیو د طرحې او تطبیق په موخه د وزارتونو لپاره د مشورتي ګروپونو تشکیل او د مرسته کوونکو له لوري له افغانستان سره د اړتیاوو د له منځه وړلو په موخه د عاجلو مرستو تر سره کول د یادونې وړ دي.

پدې ځای کې د پورتنیو مطالبو د تائید او په فعلي شرایطو کې د بودجې تدوین د عملي تګلارې د پیژندلو په موخه ستاسو پام د ۱۳۸۵ کال د بودجې د تدوین د مرحلې راپور ته را ګرځوو.

**د۱۳۸۵کال دبودجې دترتیب له مرحلې څخه دتصویب ترمرحلې پوري راپور:**

د ۱۳۸۵ کال د عادي او انکشافي بودجې د تدوین کار د ۱۳۸۴ کال د قوس د میاشتې له نیمایي څخه پیل شو. د بودجې د تدوین او بررسي کمیټه چې د مالیې، اقتصاد، بهرنیو چارو د وزارتونو او جمهوري ریاست د امورو د اداري له استازو څخه تشکیل شوې، د یو لړ ورکشاپونو له دایرېدلو وروسته یې د ۱۳۸۵ کال بودجې د طرحې لپاره د وزارتونو وړاندیزونه تر لاسه کړل. وروسته دغه کمیټه چې د ریاست دنده یې د مالیې وزارت د معین په غاړه وه، د جدي د میاشتې په نیمایي کې له وزارتونو سره مباحثې پیل کړې او یوه میاشت یې دوام وکړ.

نوموړې کمیټې د وزارتونو وړاندیزونو ته په کتنې او مالي امکاناتو او لمړیتوبونو ته په پام سره د ۱۳۸۵ کال له را رسیدلو د مخه د ۱۳۸۵ کال عادي او انکشافي بودجه تدوین او د حکومت کابینې ته یې وسپارله.

د ۱۳۸۵ کال د بودجې طرحه د کب د میاشتې په ۱۳ او ۱۵ نیټه د وزیرانو د شورا په فوق العاده غونډه کې د مالیې د وزیر او د همدغه وزارت د معین له لوري وړاندې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وزیرانو شــورا د بودجې په برخه  کې د یو لړ تعدیلاتو او بدلونونو وړاندیز وکړ او د مالیې وزارت تــه یــې دنده ورکړه تر څــو د غو تعدیلاتو ته په کتني سره د مــلي بودجې نهایي طرحه د وزیرانــو په راتلونکې شــورا کــې  وړاندي کړي. بود جه د حوت یا کب د میاشــتې په ۱۵ مه نیټه د وزیرانو د شــورا په غونډه کې په یو لړ پیشــنهاد شــویو تعدیلاتو او بدلونو باندي له بحث کولو وروسته تائید شوه  او د وزیرانو شورا د مالیې وزارت ته دنده وسپارله، تر څو یې  نهایې طرحه د تصویب په موخه ملي شورا ته وسپاري .

پدې جلسه کې پریکړه وشوه چې دولتي ارگانونه په خپلو بودجوي مصارفو کې  د معین شوي بــاب رعایتو کړي او په مصارفو کې دقیق او محتاط وي. لدې وروســته  تصویب شــوې بودجه د حوت په ۱۶ مه نیټه  د هیواد د اســاسي قانون مطابق د مشرانو جرگې ته د توضیحي موخې لپاره وړاندي شــوه  چې  د کب د میاشــتې په ۲۴ مه نیټه د مشرانو جرگې په خپله جلســه کې د ۱۳۸۵ کال بودجه تر بحث لاندي ونیوله.

د مشرانو جرگې د عادي او انکشافي بودجې په اړه د خپلو نظریاتو او وړاندیزونو په برخه کې د خپلو نظریاتو له څرگندولو وروسته د ۱۳۸۵  کال  د بودجې طرحه د ۱۳۸۵  کال د وري یا حمل دمیاشتې په ۹ نیټه ولسي جرگې ته حواله کړه  او د ولسي جرگې له بررسي وروسته منظوره شوه.

هیله ده د پورتنی راپور په واســطه د بودجې د تنظیــم او ترتیب په مهمو پړاوونو باندي پوه شــوي یاســت.  څنگه چې پوهېږی دغه  بودجه د پارلمان له لوري تصویب شوه چې په په واسطه یې د مالیې وزارت وکړای شول،  د وزارتونو د بودجوي واحدونو تخیصیص شوي مصارف د هغوی پــه واک کــې ورکړي. په ورته توگه په پورتني راپور کی وپوهېدو چې د بودجې د ترتیب او تنظیم به برخه کې اجرائیه قوه څه اغیزه لري. همدا شان د مقننه قوې په صلاحیت باندي وپوهېدو چې د بودجې له تصویب څخه عبارت دی.

د یادونــې وړ ده چــې، د بودجې له تصویب څخه وروســته  بودجه قانوني حیثیت مومي  او ټولې دولتي نمایندگۍ او موسسات د تصویب شوې بودجې مطابق  له مصارفو څخه استفاده کوي .

په افغانســتان کې د بودجې کنټرول د بودجې د ریاست له مهمو دندو څخه شمېرل کیږي او دغه ریاســت د مالیې  وزارت له مهمو ریاســتونو څخه دی چې د دولت د کلنۍ بودجې د ترتیب، تنظیم او تطبیق مسؤلیتونه په غاړه لري.

د افغانســتان د اســلامي جمهوریت د موقتي ادراې په رامنځته کېدلو  د بودجې د سطحې له لوړوالی سره، چې عمده تاً د نړیوالو مالي سرچینو په مرسته تمویلیږي، د دغه ریاست په دندو کې هم زیاتوالی رامنځته شــو. لکه څنگه چې د مرســتو انســجام هم د دغه ریاست د دندو د لایحې یوه برخه گرځېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه آخر کې یو ځل بیا یادونه کوو چــې د ۱۳۸۴ کال د بودجې د مالي امورو او عامه مصارفو د قانون د اوه ویشــتمې مادې مطابق باید د حکومت د اقتصادي جوړښــت او انکشافي طرحو له مخې د دولت ترلاسه کېدونکي عواید او مصارف د راتلونکي مالي کال لپاره تخمین او ارزیابي شي.

د عامه مصارفو او مالي امورو د قانون اداره په ۹ فصلونو او په ۶۵ مادو کې تصویب او ۱۳۸۴/۶/۵ نیټه توشــیح شــوېده. شــپږم فصل یې د بودجې ترتیب او منظوري ته، اووم فصل یې د بودجې د صلاحیتونــو پــه برخه کې د اجراآتو لپاره او اتم فصل یې د بودجې دمحاســبې برخو ته ځانګړي شویدي .

**د شپږم څپرکي د مطالبو لنډیز**

په افغانســتان کې د نورو هېوادونو په څیر د بودجې تشــکیل په څلورو پړاونو کې بشپړیږي چې په ترتیب سره له ترتیب، تصویب، اجرا او کنټرول څخه عبارت دي.

د دولت بودجه د بودجوي واحدونو له لوري ترتیب او د شمولیت په موخه د دولت عمومي بودجــې او د مالیې وزارت د بودجې ریاســت ته اســتول کیږي. دمالېــې وزارت د نورو وزارتونو بودجه تعدیل او اصلاح کوي او د دولت بودجه د توازن د اصل په اساس توحید کوي.

د مسؤلینو له قوله د دولتي اداراتو بودجوي نظم د ۱۳۸۱ لمریز کال څخه پیل شو. د بودجې د تدوین او بررسي کمیټه د مالېې، اقتصاد، خارجه چارو د وزارتونو او جمهوري ریاست د امورو د اداري له استازو څخه تشکیل شوېده .

د یادونــې وړ ده چې د بودجې له تصویب څخه وروســته بودجــه قانوني حیثیت مومي او ټولې نمایندګۍ او وزارتونه د تصویب شوې بودجې مطابق د استقادې قانوني حق تر لاسه کوي.

په هېواد کې د بودجې کنټرول د بودجې د ریاست له مهمو دندو څخه شمېرل کیږي.

د مــالي امــورو او عامه مصارفو د قانون اداره په ۹ فصلونو کې له ۶۵ مادو سره تصویب او په ۱۳۸۶/۶/۵ نیټه توشیح شوې ده. په ۱۳۶۳ کال کې د بودجوي قانون په انفاذ او د هغه نور مغایر احکام لغوه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم څپرکي پوښتنې:**

۱- په افغانستان کې د بودجې مراحل څو پړاونه لري نومونه یې واخلئ؟

۲- پدې وروستیو کې د افغانستان د اداراتو بودجوي نظم له کوم کال څخه پیل شو؟

۳- د ۱۳۸۴ د کال بودجې د تدوین او بررسي کمیټه له کومو استازو څخه تشکیل شوېده، پدې برخه کې معلومات ورکړئ؟

۴- په افغانستان کې د بودجې کنټرول د کوم ارګان دنده ګڼل کیږي، پدې برخه کی معلومات ورکړئ؟

۵- د بودجې د ریاست د دندو په هکله معلومات ورکړئ؟

۶- د ۱۳۸۴ کال د مالي امورو او عامه مصارفو د قانون له مخې بودجه د څوکلنو پروګرامونو په اساس تهیه او ترتیب کیږي؟

۷- د ۱۳۸۴ کال د مالي امورو او عامه مصارفو قانون د څو فصلونو او څو مادو لرونکی دی، معلومات ورکړئ؟

۸- آیاد ۱۳۸۴دټولیزو لګښتونو او د مالي چارود اداري دقانون په نا فېذېدوسره د۱۳۶۲نېټې قانون هم د اجرا وړ دی او که نه، معلومات ورکړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچينې او اخځليكونه:**


۱- منچولی ، ژنیو (۱۳۱۴) طرز جدید تشکیلات دوایر مالیاتی، مطبعه عمومی کابل

۲- توکلی، احمد (۱۳۸۵) مالیه عمومی، انتشارات سمت، تهران

۳- مهندس ابوطالب،(۱۳۸۵) مالیه عمومی موسسه عالی حسابداری، تهران

۴- احمدی ، علی محمد (۱۳۸۲) اصول و مبانی بودجه ریزی، انتشارات نور علم ، همدان

۵- حقایقی ، عبدالله (۱۳۸۴) سیاست بوجه ، فاکولته اقتصاد، کابل

۶- وزارت عدلیه (۱۳۸۴) قانون امور مالی و مصارف عامه کابل

۷- وزارت مالیه (۱۳۸۳) پروگرام اموزشی طرز اجرات عملی در واحد های اولی بودجوی

۸- رنگریز حسن و دیگران (۱۳۸۳) دولت و بودجه ریزی نوین دولتی، ایران

۹- لکچرنوت ها و مواد موجود در دیپارتمنت بودجه انستیتوت اداره و حسابداری

۱۰- گزارش از واحد پالیسی هماهنگی و راپور دهی وزارت مالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښـــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســـې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښـــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د ښـــوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حســـابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســـتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شـــاګردانو او د تخنيکي او مســـلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شـــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـــوونکو او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د مســـلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســـلکي، تخنيکـــي او علمي مطالبـــو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکلـــه خصوصاً د هغوی املايي او انشـــايي اشـــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شـــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شـــان له ګرانو شـــاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســـتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســـتونزې، فقر او وروســـته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته: د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت**

**د تعليمي نصاب د پراختيا رياست**

**د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**